# دَ رُومیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## سلام

۱ ۱ دَ پولوس له طرف نه، چه دَ مسیح عیسیٰ غُلام اَؤ بللے شوے رسُول
دے چه دَ خُدائے دَ زیری دَ خورولو دَ پاره مُقرر کړے شوے دے.

۲ دا زیرے خُدائے دَ مخکښے نه په مُقدسو صحیفو کښے دَ خپلو نبیانو په
وسیله لوظ کړے دے ۳ دَ هغهٔ دَ زوئے، زمونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح په حقله،
چه په اِنسانی طور دَ داؤد په نسل کښے پیدا شو، ۴ خو دَ قدوسیت دَ رُوح په
مُطابق له مړو نه دَ بیا ژوندی کیدو په وسیله هغه په قُدرت سره دَ خُدائے زوئے
اِظهار شو، یعنے زمُونږ مالِک عیسیٰ مسیح. ۵ اَؤ دَ هغهٔ په وسیله مُونږ ته دا
فضل اَؤ رسالت بخښلے شوے دے چه دَ هغهٔ په نامه ټولو غیرو قومُونو ته بلنه
ورکړُو چه ایمان راؤړی اَؤ تابعدار شی. ۶ اَؤ په هغو کښے تاسو هم عیسیٰ
مسیح ویللئ.

۷ دَ هغه ټولو دَ رُوم اوسیدُونکو پاکانو ته چه دَ خُدائے محبُوبان دی اَؤ بللے
شوی دی،

زمُونږ دَ پلار خُدائے اَؤ دَ مالِک عیسیٰ مسیح فضل اَؤ سلامتیا دِ تاسو سره وی.

## دَ پولوس رُوم ته دَ تللو شوق

۸ پس له سلام نه زَهٔ دَ عیسیٰ مسیح په وسیله دَ خپل خُدائے شکر ستاسو ټولو
دَ پاره ادا کوم ځکه چه په ټوله دُنیا کښے خلق ستاسو دَ ایمان ذکر کوی. ۹ دَ
هغه خُدائے دَ چا چه زَهٔ دَ خپل زړهٔ سره خدمت کوم په دے جوړ چه دَ هغهٔ دَ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوئے زیرے خوروم، هغه خُدائے زما ګواه دے چه زَهٔ ښومره په باربار تاسو
یادوم، ۱۰ اَؤ په خپلو دُعاګانو کښے دا سوال کوم چه دَ هغهٔ په مرضئ دِ زَهٔ دَ
دے جوګه شم چه تاسو ووینم. ۱۱ ځکه چه زَهٔ ستاسو دَ لیدو آرزومند یم اَؤ دا
غواړم چه تاسو ته څهٔ رُوحانی نِعمت درکړم چه تاسو پرے قوی اَؤ مظبُوط شئ.
۱۲ اَؤ یا دا چه زَهٔ دِ تاسو سره پاتے شم چه ستاسو ایمان ما زړهٔ ور کړی اَؤ
زما ایمان تاسو.

۱۳ خو اَئے زما ورُونړو! چه تاسو په دے پوهه شئ چه ما ډیر ځله دَ راتلو
کوشِش کړے دے خو تر اوسه کامیاب شوے نهٔ یم، تش په دے اُمید چه په
تاسو کښے څهٔ فصل حاصل کړم لکه چه مے دَ دُنیا په نورو غیرو قومُونو
کښے حاصل کړے دے. ۱۴ زَهٔ دَ مذهب اَؤ دَ غیر مذهب خلقو، دَ عالمانو اَؤ دَ
عامیانو، دَ هر چا ذمه وار اَؤ اِحسان مند یم. ۱۵ اَؤ ځکه دا غواړم چه تاسو ته
چه په رُوم کښے یئ، زیرے دررسوم.

## دَ زیری قُوت

۱۶ زَهٔ له زیری نه نهٔ شرمیږم ولے چه دَ هر چا دَ پاره چه ایمان راؤړي دا دَ
خلاصُون دَ پاره دَ خُدائے قُوت دے، ورُومبے دَ یهُودیانو دَ پاره بیا دَ غیر
یهُودیانو دَ پاره. ۱۷ ځکه چه هم دلته دَ خُدائے هغه صداقت ښرګندیږی چه دَ
ایمان نه شُروع کیږی اَؤ په ایمان تر سره کیږی لکه چه صحیفے وائی :

”دَ چا چه دَ ایمان په وسیله دَ خُدائے سره

رښتینی رشته قائمه وی، هغه به ژوندے پاتے شی.“

## دَ بنی آدمو جُرم

۱۸ دَ خُدائے غضب له آسمان نه په هغه خلقو نازلیږی ښوک چه حق په بے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

انصافئ پټوی اَؤ تولے بے دینئ اَؤ ناراستئ کوی. ⑲ ځکه چه هر هغه څۀ چه دَ
خُدائے په حقله خلقو ته معلُوم وی، هغه دَ هغوئ دَ سترګو په وړاندے دی ځکه
چه خُدائے په خپله هغوئ ته ښکاره کړی دی. ⑳ ولے چه دَ هغۀ پټ صفتُونه
لکه دَ هغۀ دائمی قُوت اَؤ اُلوهیت، دَ وخته راسے دَ کله نه چه خُدائے دا دُنیا پیدا
کړے ده، په هغه څیزُونو کښے ښرګندوی چه هغۀ پیدا کړی دی. هغوئ ئے
وینی نو ځکه دَ هغوئ دَ دے عمل دَ پاره هیڅ عُذر نِشته. ㉑ هغوئ خُدائے
پیژندلو خو بیا هم دَ خُدائے دَ تمجید نه ئے اِنکار کاوو اَؤ شکر ګذار کیدل نه،
بلکه دَ هغوئ ټول خیالات باطل شول اَؤ دَ هغوئ بے لارے کړی شوی زړُونه په
تورتم کښے غورزولی شول. ㉒ هغوئ دَ خپلے هوښیارتیا لافے کولے خو
هغوئ دَ ځان نه په خپله ناپوهه ساز کړی وُو، ㉓ اَؤ دَ یو دائمی خُدائے دَ جلال
په ځائے ئے هغه دَ فانی اِنسان، دَ مارغانو، ښوئیدُونکی چینجو اَؤ دَ څاروو په
تصور کښے بدل کړو.

㉔ هم په دے وجه خُدائے دَ دوئ دَ زړُونو دَ خواهشاتو په مُطابق هغوئ په
ناپاکئ کښے پریښودل دَ دے دَ پاره چه دَ دوئ جسمُونه یو تر بله سپک کړے
شی. ㉕ ځکه چه هغوئ دَ خُدائے حقیقت په دروغو بدل کړو اَؤ دَ مخلُوق
عبادت اَؤ خدمت ئے دَ خالِق په ځائے وکړو، چه تل تر تله دَ حمد لایق دے!
آمین.

㉖ نو ځکه خُدائے هغوئ سپکو شهوتُونو ته پریښودل. دَ هغوئ ښځو دَ فطری
جنسی عمل په ځائے غیر فطری جنسی عمل خپل کړو. ㉗ اَؤ دَ هغوئ سړو هم
دغه شان دَ ښځو سره دَ فطری جنسی عمل په ځائے دَ یو بل سره بدکاری
راواخسته اَؤ سړو دَ سړو سره بدکاری وکړله، اَؤ اَنجام ئے دا چه په خپله ئے دَ
دے ګُمراهئ بدله اَؤ سزا ومُوندله

㉘ اَؤ لکه څنګه چه هغوئ دَ خُدائے پیژندل خوښ نۀ کړل نو هغۀ هم دوئ خپلو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باطل خیالاتو ته پریښودل چه هم په دغسې ناکردو آخته وی. ﴿۲۹﴾ اَؤ دغه شان
دوئ دَ هر قِسم بې اِنصافئ، بدئ، لالچ اَؤ بدو خواهشاتو نه ډک شول اَؤ دوئ دَ
حسد، قتل، جګړې، ټګئ اَؤ بُغض نه ډک دی. دوئ غیبت کوُونکی ﴿۳۰﴾ اَؤ
سازشیان دی، دَ خُدائے سپک ګڼُونکی، بد سره، مغرُور اَؤ لوئی مار دی. دوئ
ورانئ جوړوی اَؤ دَ مور پلار عزت نۀ کوی، ﴿۳۱﴾ بې ضمیره اَؤ بې لوظه دی، نۀ
ئې مینه شته اَؤ نۀ رحم کوی. ﴿۳۲﴾ دَ خُدائے په دې اَمر هغوئ ښۀ خبر دی چه
هغه څوک چه داسې عمل کوی، هغوئ دَ مرګ لایق دی خو بیا هم هغوئ داسې
کوی. نۀ یواځې دا بلکه هغوئ په داسې کوُونکو شاباشې هم وائی.

## دَ خُدائے رښتینې عدل

۲ ﴿۱﴾ اَئے سړیه! تۀ چه بل څوک مُجرم کوې، تۀ هر څوک چه یئې، تا سره
هیڅ عُذر نِشته ځکه چه کله چه تۀ بل څوک مُجرم کوې هم هغه کارُونه په خپله
کوې چه هغوئ ئې کوی، نو ځان پرې مُجرم کوې. ﴿۲﴾ ولې چه مُونږ ته
معلُومه ده چه څوک چه داسې کارُونه کوی نو خُدائے په عدل په هغۀ باندې
عدالت کوی. ﴿۳﴾ آیا تۀ دا ګڼې چه تۀ چه بل څوک مُجرم کوې په خپله هم دغه
کارُونه کوې، نو تۀ دا ګڼې چه ګنی تۀ به دَ خُدائے دَ عدالت نه ځان بچ کړئې
شې څۀ؟ ﴿۴﴾ اَؤ یا دا چه تۀ دَ هغۀ دَ مهربانئ دَ زغم اَؤ دَ صبر دولت سپک
ګڼې څۀ؟ اَؤ دا نۀ منې چه دَ خُدائے مهربانی تا توبې ته بیائی؟ ﴿۵﴾ بلکه تۀ په
خپله ناړامتیا اَؤ دَ ناتوبه ګار زړۀ په مُطابق دَ خپل ځان دَ پاره دَ خُدائے دَ قهر دَ
ورځې غضب ډیرَوې کله چه به دَ خُدائے رښتُونې عدالت ظاهر شی. ﴿۶﴾ هغه
به هر چا ته دَ هغۀ دَ کارُونو په مُطابق اَجر ورکړی. ﴿۷﴾ څوک چه په صبر سره
ښۀ کوی اَؤ جلال اَؤ عزت اَؤ بقا لټوی، هغوئ ته به دَ تل ژوندُون ورکړی. ﴿۸﴾
خو هغوئ چه خود غرض اَؤ دَ حق نه مُنکر دی اَؤ په غلطه لار سر شوی دی، په
هغوئ به قهر اَؤ غضب نازلیږی. ﴿۹﴾ څوک چه بدکاره وی، دَ هغوئ دَ پاره



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُصیبت اَؤ تنگی ده، اول دَ یهُودی دَ پاره اَؤ بیا دَ غیر یهُودی دَ پاره. ﴿۱۰﴾ خو دَ ټولو نیکی کوُونکو دَ پاره جلال اَؤ سلامتی، اول دَ یهُودی دَ پاره اَؤ بیا دَ غیر یهُودی دَ پاره. ﴿۱۱﴾ ځکه چه خُدائے دَ هیچا طرفداری نهٔ کوی. ﴿۱۲﴾ هغه چا چه بے دَ مُوسیٰ دَ شریعت نه ئے گُناه کړے وی، نو هغه به بے له شریعت نه هلاک شی، اَؤ هغه چا چه دَ دے شریعت دَ لاندے ئے گُناه کړے وی، هغه به په دے شریعت سزا مُومی. ﴿۱۳﴾ دا دَ شریعت په آؤریدو نه، بلکه په دے دَ عمل کولو په وسیله به سرے دَ خُدائے په وړاندے صادِق کیږی. ﴿۱۴﴾ اَؤ هغه غیر یهُودی خلق چه شریعت نهٔ لری خو دَ خپل فطرت په مُطابق پرے عمل کوی خو سره دَ دے چه دَ هغو سره شریعت نِشته، هغوئ ځان ته په خپله شریعت دی، ﴿۱۵﴾ ځکه چه هغوئ دَ هغه شریعت پابندی کوی کُوم چه دَ هغوئ په زړُونو لیکلے دے. دَ هغوئ زړهٔ دَ هغوئ گواهی ورکوی اَؤ دَ هغوئ خیالُونه په خپل مینځ کښے په یو بل اِلزامُونه لگوی اَؤ مُدافعت کوی، کله دَ هغوئ په خلاف اَؤ کله دَ هغوئ په حق کښے. ﴿۱۶﴾ په هغه ورځ به خُدائے دَ اِنسان دَ پټو خیالُونو عدالت دَ عیسیٰ مسیح په وسیله زما دَ زیری په مُطابق وکړی.

## دَ یهُودیانو شریعت

﴿۱۷﴾ خو که تهٔ ځان ته یهُودی وائے اَؤ په شریعت ولاړ یئے اَؤ په خپل خُدائے فخر کوے، ﴿۱۸﴾ که تا ته دَ هغهٔ رضا معلُومه ده اَؤ دَ شریعت نه واقف یئے، نو ځکه تهٔ په ښو اَؤ په بدو کښے تمیز کوے، ﴿۱۹﴾ اَؤ ستا په دے یقین دے چه دَ ړندو رهنمائی کوے اَؤ چه په تیارهٔ کښے ناست دی دَ هغوئ دَ پاره رڼا یئے، ﴿۲۰﴾ دَ ساده خلقو تربیت کوے اَؤ دَ شاگردانو اُستاذ یئے، ځکه چه په شریعت کښے تهٔ دَ عِلم اَؤ دَ رښتیاؤ کمال لرے. ﴿۲۱﴾ خو بیا تهٔ چه خپلو ملگرو ته تعلیم ورکوے، نو په خپله تعلیم ولے نهٔ آخلے؟ تهٔ خو دا اِعلان کوے چه غلا مه کوئ، نو ولے تهٔ په خپله غلا کوے؟ ﴿۲۲﴾ تهٔ وائے چه زِنا مه کوئ، نو ولے تهٔ په خپله زِنا کوے؟ تهٔ چه بُتان پلیت گڼے، نو ولے تهٔ بُت خانے لُوټے؟ ﴿۲۳﴾ سره دَ دے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه تهٔ په شریعت فخر کوے نو ولے تهٔ دَ عمل نهٔ کولو په وجه دَ خُدائے سپکاوے نهٔ کوے څهٔ؟ (۲۴) ځکه لکه چه صحیفے وائی :

”هم ستاسو په وجه دَ خُدائے په حقله

غیر یهُودی قومُونه سپکے وائی.“

(۲۵) سُنت کیدل فائده ناک دی خو هله چه تهٔ په شریعت عمل کوے، نو که تهٔ چرے په شریعت عمل نهٔ کوے نو ستا سُنت داسے دے لکه چه هډو شوے نهٔ وی. (۲۶) هم دغه شان که یو ناسُنت شوے په شریعت عمل کوی نو آیا هغه به دَ سُنت شوی په شان نهٔ وی څهٔ؟ (۲۷) هغه به ناسُنت شوے وی خو په شریعت دَ عمل کولو په وجه به تهٔ دَ هغهٔ په مُقابله کښے مُجرم ګرزولے شے ځکه چه تاسو سره لیکلے شوے شریعت موجُود دے اَؤ سُنت شوی یئ خو بیا ئے هم ماتوئ. (۲۸) په ظاهری نخښو نښانو څوک سُوچه یهُودی کیدے نهٔ شی اَؤ نهٔ صحیح سُنت کیدل په جسم کښے ظاهری نخښے ته وائی. (۲۹) خو صحیح یهُودی هغه دے چه څوک په باطن کښے وی اَؤ رښتُونے سُنت دَ زړهٔ دے، کُوم چه دَ لیکلی شریعت دَ مخه نهٔ دے بلکه دَ خُدائے دَ رُوح دَ مخه دے. اَؤ دَ داسے سړی صفت دَ خُدائے نه کیږی، نهٔ چه دَ خلقو نه.

۳ (۱) نو بیا یهُودی څهٔ غوره والے لری؟ اَؤ دَ سُنت کیدلو فائده څهٔ ده؟ (۲) په هره معامله کښے ډیره! دَ ټولو نه لویه دا چه دَ خُدائے کلام هغوئ ته وسپارلے شو. (۳) په دے څهٔ که په دوئ کښے ځنے بے وفا وُو؟ آیا دَ دوئ بے وفائی به دَ خُدائے وفاداری بے اثره کړی؟ (۴) هیڅ کله نه! که هر ژوندے بنی آدم دروغژن هم شی خو خُدائے به خامخا رښتُونے وی، لکه چه په صحیفو کښے مُونږ دا لولو چه :

”تهٔ دِ په خپلو خبرو کښے رښتُونے وګرزے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَؤ په خپل عدالت کښې دِ برے ومُومے.“

۵ خو بل سوال دا چه که چرے زمونږ بے اِنصافی دَ خُدائے دَ اِنصاف ښکاره کولو سبب کيدے شی نو بيا مُونږ په کښې څۀ وئيلے شو؟ آيا دا دَ خُدائے دَ لورى بے اِنصافی ده چه خُدائے په مُونږ غضب نازلوى؟ زۀ داسے دَ اِنسان په طور وايم. ۶ هيڅ کله نه! که چرے خُدائے بے اِنصافه وى نو هغه به دَ دُنيا عدالت څنګه وکړى؟

۷ بيا دا، که چرے دَ خُدائے حقيقت هغۀ ته لا زيات جلال زما دَ دروغو په سبب ورکوى نو بيا دِ دَ څۀ دَ پاره زۀ په خپلو ګُناهونو مُجرم کيږم؟ ۸ نو بيا ولے دِ بد ونۀ کړے شى چه ښۀ پرے څرګند شى؟ لکه چه ځنے په مُونږ دا تُهمت لګوى چه مُونږ داسے وايُو! چه دوى مُجرم وګرزولے شى نو دا بے اِنصافی نۀ ده.

## هيڅوک صادِق نِشته

۹ بيا نو څنګه؟ آيا مُونږ يهُوديان څۀ هم دَ نورو نه ښۀ يُو څۀ؟ نه، بلکل نه! ځکه چه مُونږ دَ مخکښے نه دا اِلزام عائد کړے دے چه يهُوديان اَؤ غير يهُوديان دواړه يو شان دَ ګُناه په ولقه کښے دى. ۱۰ لکه چه صحيفے وائى چه :

”هيڅوک صادِق نِشته، يو هم نِشته.

۱۱ داسے هيڅوک نِشته چه پوهيږى،

داسے هيڅوک نِشته چه دَ خُدائے طالب وى.

۱۲ ټول ګُمراه دى اَؤ دَ هيڅ کار نۀ دى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې هيڅوک نِشته چه مهربانی کوی،

نه، هيڅوک نِشته.

⑬ دَ هغوئ مرئ دَ پرانستی قبرُونو په شان دی،

هغوئ دَ خپلو ژبو سره ټګی کوی،

دَ هغوئ په شونډو دَ مارانو زهر پراتۀ دی.

⑭ اَؤ دَ هغوئ خُلې دَ ترخو خبرو اَؤ لعنتُونو نه ډکې دی.

⑮ دَ هغوئ پښې دَ وينې تويولو پلو په دَؤ دی.

⑯ تباهئ اَؤ بدحالئ دَ هغوئ په لارو کښې دی.

⑰ هغوئ دَ سلامتئ دَ لوئې لارې نه نا آشنا دی.

⑱ اَؤ دَ خُدائے ويره دَ هغوئ په خيال کښې نۀ راځی.“

⑲ مُونږ ته معلُومه ده چه دَ شريعت ټول کلام دَ هغه چا دَ پاره دے څوک چه دَ شريعت دَ لاندې دے، دَ دې دَ پاره چه يو سړے هم څۀ عُذر ونۀ لری اَؤ دغه شان ټوله دُنيا دَ خُدائے په مخکښې مُجرمه کړے شی. ⑳ اَؤ يو سړے به هم په شريعت دَ عمل کولو دَ خُدائے په وړاندې صادِق نۀ وی ځکه چه شريعت خو صرف دَ ګُناه دَ پيژندلو سبب دے.

## دَ ايمان په وسيله صداقت

㉑ خو اوس دَ شريعت نه بيخی آزاد دَ خُدائے صداقت څرګند کړے شوے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے چه شریعت اَوْ نبیان دواړه دَ دے ګواه دی، (۲۲) یعنے دَ خُدائے له طرف نه صداقت چه په عیسیٰ مسیح دَ ایمان په وسیله هغه ټولو ته ورکړے شی، یعنے هغوئ ټولو ته چه په هغهٔ ایمان راوړی. په دوئ کښے هیڅ فرق نِشته، (۲۳) ځکه چه ټولو ګُناه کړے ده اَوْ دَ خُدائے دَ لوئی نه محرُوم دی، (۲۴) اَوْ ټول دَ خُدائے په رحم ویړیا صادِق کیږی ولے چه عیسیٰ مسیح هغوئ خلاص کړی دی. (۲۵) ځکه چه خُدائے مسیح دَ دے دَ پاره مُقرر کړے وو چه دَ هغهٔ دَ قُربانئ په کفاره اَوْ په هغهٔ دَ ایمان په وسیله ګُناهُونه وونیځی اَوْ چه خپل صداقت ښکاره کړی. ځکه چه خُدائے صابر دے نو په تیرو شو ګُناهُونو ئے څهٔ غرض ونهٔ لرو، (۲۶) دَ دے دَ پاره چه په دے زمانه کښے صداقت ښکاره کړی اَوْ دا ښکاره کړی چه هغه په خپله صادِق دے اَوْ هر هغه سړے صادِق ګڼی چه په عیسیٰ مسیح ایمان لری.

(۲۷) نو بیا فخر کول چرته؟ دا بے ځایه دی! په کُوم سبب؟ دَ عمل کولو په وجه؟ نه، خو دَ ایمان په وسیله. (۲۸) مُونږ دا وایُو چه خُدائے سړے دَ ایمان په وسیله صادِق کوی، نهٔ چه په شریعت دَ عمل کولو. (۲۹) آیا دا چه خُدائے یواځے دَ یهُودیانو خُدائے دے؟ آیا هغه دَ غیرو یهُودیانو خُدائے نهٔ دے؟ بے شکه چه هغه دَ غیرو یهُودیانو خُدائے هم دے. (۳۰) ځکه چه خُدائے یو دے اَوْ هغه به سُنت شوی دَ ایمان په وسیله اَوْ ناسُنته هم دَ ایمان په وسیله صادِق کړی. (۳۱) آیا دَ دے دا مطلب دے چه مُونږ دَ ایمان په وسیله شریعت بے اثره کوو؟ هیڅ کله نه، بلکه مُونږ خو شریعت مظبُوطوو.

## دَ اِبراهیم په حقله مِثال

۴ (۱) نو بیا مُونږ دَ اِبراهیم په حقله څهٔ ووایُو؟ چه زمُونږ نیکهٔ په جسمانی طور څهٔ ومُوندل؟ (۲) که چرے اِبراهیم په خپلو کارُونو صادِق وو نو بیا ئے فخر په ځائے دے، خو دَ خُدائے په نِزد نه. (۳) ځکه صحیفے څهٔ وائی چه:



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”اِبراهيم په خُدائے ايمان راؤړو

اَؤ هغه ايمان دَ هغهٔ په صداقت حساب شو.“

۴ نو اوس که يو سړے څهٔ کار وکړی نو دَ هغهٔ مزدُوری دَ هغهٔ بخښنه نهٔ ده،
نو دا خو دَ هغهٔ حق دے. ۵ خو که څوک بغير دَ عمل نه تش په هغهٔ ايمان
ولری څوک چه بے دينه صادِقوی نو بے شکه چه دَ هغهٔ ايمان په صداقت
حساب دے. ۶ هم دغه شان داؤد دَ هغه سړی دَ خوشحالئ ذکر کوی څوک
چه خُدائے بے دَ عمل نه صادِق بولی. ۷ هغه وائی چه :

”بختور دی هغوئ چه بے شرعے کارُونه ئے

معاف شول اَؤ په گُناهونو ئے پرده واچولے شوه!

۸ بختور دے هغه سړے دَ چا گُناهُونه

چه خُدائے په حساب کښے رانهٔ وستل!“

۹ آيا دا خوشحالی تش دَ سُنت شوو دَ پاره ده، يا دا دَ ناسُنتو دَ پاره هم ده؟
مُونږ وايو چه فکر وکړئ چه ”دَ اِبراهيم ايمان په صداقت حساب شو.“ ۱۰ نو دا
په کُومو حالاتو کښے داسے حساب شو؟ آيا هغه په هغه وخت سُنت کړے
شوے وو که نه؟ هغه خو په هغه وخت لا سُنت کړے شوے نهٔ وو، ۱۱ بلکه هغهٔ
ته وروستو دَ سنت دَ نخښے جوړولو حق ورکړے شو چه دا دَ هغهٔ دَ هغه ايمان
دَ صداقت مُهر وو چه هغه لا ناسُنته وو. نتيجه دا ده چه هغه دَ هغو ټولو ناسُنتو
هم آبا دے چه دَ ايمان په وسيله صادِق گڼلے شی. ۱۲ اَؤ ورسره دَ هغو سُنت
شوو هم آبا دے چه نه يواځے سُنت شوی دی، بلکه چه زمُونږ دَ آبا اِبراهيم
غوندے ايمان ولری، يعنے هغه ايمان چه هغه لا سُنت شوے نهٔ وو، چه لرلو
ئے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ خُدائے دَ اِبراهيم سره لوظ

۱۳ خُدائے دَ اِبراهيم اَوُ دَ هغهٔ دَ اَوُلاد سره دَ دُنيا دَ وارث کيدو لوظ دَ شريعت
په وسيله ونهٔ کړو بلکه دَ صداقت په بُنياد ئے وکړو چه په ايمان حاصليږى. ۱۴
ځکه چه که تش په شريعت قائم خلق وارثان دى نو بيا ايمان بے ځايه دے اَوُ
لوظ بے اثره. ۱۵ چرته چه شريعت وى هلته سزا هم وى، خو چرته چه شريعت
نِشته نو هلته دَ شريعت ماتول هم نِشته.

۱۶ نو خُدائے دَ خپل فضل په مُطابق دا لوظ ځکه وکړو چه اِبراهيم په هغهٔ
ايمان راوړے وو دَ دے دَ پاره چه دَ هغهٔ فائده دَ اِبراهيم ټول نسل ته دَ بخښنے په
طور ورسى، يواځے دَ هغوئ دَ پاره نه چه په شريعت قائم دى، بلکه دَ هغوئ دَ
پاره هم چه دَ اِبراهيم په شان ايمان لرى ځکه چه هغه زمُونږ دَ ټولو پلار دے. ۱۷
لکه چه صحيفے وائى چه : "ما تهٔ دَ ډيرو قومُونو پلار گرزولے يئے." چُونکه دا
لوظ خُدائے کړے دے ځکه دا رښتينے دے، يعنے هغه خُدائے په چا چه دَ
اِبراهيم ايمان وو، هغه په يو حُکم مړى بيا ژوندى کوى اَوُ نِشت شته کوى. ۱۸
بيا هغهٔ په نااُميدئ کښے اُميد ولرلو، نو دَ هغهٔ ايمان داسے وو چه هغه پرے دَ
ډيرو قومُونو پلار شو، دَ هغه کلام په سبب چه هغهٔ ته وئيلے شوے وو چه :
"ستا اَوُلاد به دَ ستورو په شان ډير وى." ۱۹ اَوُ دَ ايمان دَ څهٔ کمزورئ نه بغير
هغهٔ دَ خپل وجُود لکه دَ مړى په شان کمزورئ ته فکر ونهٔ کړو ځکه چه هغه خوا
اَوُ شا دَ سلو کالو بُوډا وو اَوُ ساره هم دَ زيږيدو لائقه نهٔ وه. ۲۰ خو بيا هم هغه دَ
خُدائے په لوظ شکمن نهٔ شو بلکه په ايمان کښے مظبُوط شو اَوُ دَ خُدائے ثنا
ئے ووئيله. ۲۱ اَوُ دا ئے پُوره يقين وو چه خُدائے خپل کړے لوظ پُوره کولے
شى. ۲۲ اَوُ ځکه دا ايمان اِبراهيم ته "په صداقت حساب شو" ۲۳ دا خبرے
يواځے دَ اِبراهيم دَ پاره نهٔ وے ليکلے شوے چه "په صداقت هغهٔ ته حساب
شوے" ۲۴ بلکه زمُونږ دَ پاره هم وے چه دا به زمُونږ په باب کښے هم دغسے
حسابيږى، يعنے زمُونږ چه په هغه خُدائے ايمان دے چه زمُونږ مالِک عيسىٰ ئے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له مړو نه بیا ژوندے کړو، ۲۵ هغه خوک چه زمُونږ په قصُورُونو قُربان شو اَؤ زمُونږ دَ صادِق کولو دَ پاره بیا ژوندے کړے شو.

## دَ صادِق کولو اَنجام

**۵** ۱ نو اوس چه مُونږ دَ ایمان په وسیله صادِق کړے شوُو نو دَ مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله دَ خُدائے سره صُلح لرُو. ۲ دَ چا په وسیله چه مُونږ دَ خُدائے په فضل کښے ځائے مُوندلے دے اَؤ چرته چه مُونږ اوس هم ولاړ یُو، اَؤ خُدائے دَ لوئی په اُمید فخر کوُو چه دا به زمُونږ هم وی! ۳ سربارى پرے دا مُونږ په خپلو موجُوده تکلیفُونو هم فخر کوُو ځکه چه مُونږ ته دا معلُومه ده چه تکلیفُونه په سړی کښے دَ زغم طاقت پیدا کوی. ۴ اَؤ زغم دَ دے خبرے ثبوت راوړی چه مُونږ په آزمیښت کښے کامیاب شوُو اَؤ هم دغه وجه ده چه مؤنږ اُمید لرُو ۵ آؤ دا اُمید تشه خوښ فهمی نه ده ځکه چه دَ رُوحُ القُدس په وسیله چه مُونږ له راکړے شو، زمُونږ زړُونه دَ خُدائے دَ مینے نه ډک کړے شول.

۶ ځکه چه په کُوم وخت چه مُونږ لا بے وسه وُو نو مسیح دَ بے دینو دَ پاره مړ شو. ۷ دَ یو صادِق دَ پاره به په مُشکله خوک مړ شی. کیدے شی چه دَ یو ښهٔ سړی دَ پاره خوک ځان مرګ ته حواله کړی. ۸ خو خُدائے خپله مینه مُونږ ته داسے ښکاره کړه، کله چه مُونږ لا ګُناه ګار وُو نو مسیح زمُونږ دَ پاره مړ شو! ۹ اَؤ اوس چه مُونږ دَ مسیح دَ مرګ په وسیله صادِق کړے شوُو نو بے شکه چه مُونږ به دَ هغهٔ په وسیله دَ خُدائے دَ غضب نه هم بچ شُو. ۱۰ ځکه چه سره دَ دے چه مُونږ دَ خُدائے دُښمنان وُو نو مونږ دَ هغهٔ دَ زوئے دَ مرګ په وسیله ورسره پُخلا شوُو اؤ دَ دِے نه زیات دَ هغهٔ دَ زوئے دَ ژوند په وسیله به بچ شُو! ۱۱ خو یواځے دا نه، بلکه مُونږ دَ خپل مالِک عیسیٰ په وسیله په خُدائے کښے خوشحالی کوُو ځکه چه دَ هغهٔ په وسیله ورسره پُخلا شوی یُو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ دَ يو سړى په وسيله ګناه دُنيا ته راغله اَؤ دَ ګُناه په وسيله مرګ. اَؤ دغه شان
مرګ په ټول اِنسانى نسل قبضه وکړله تر دے چه ټولو بنى آدمو ګُناه وکړله. ۱۳
ګُناه دَ شريعت نه وړاندے دُنيا ته راغلے وه سره دَ دے چه دَ شريعت په غير
موجُودګئ کښے دَ ګُناه حساب نۀ وو. ۱۴ خو دَ آدم نه تر مُوسىٰ پورے مرګ
په هغوئ هم قابض وو چه دَ آدم په شان داسے ګُناه ئے نۀ وه کړے چه دَ
خُدائے حُکم ئے مات کړو. آدم دَ هغه سړى په مِثال دے چه راتلُونکے وو. ۱۵
خو دَ خُدائے فضل دَ آدم دَ ګُناهُونو په مُقابله کښے بے اندازے وو ځکه چه که
دَ يو سړى ګُناه په دومره ډيرو خلقو باندے مرګ نازلوو نو دَ خُدائے فضل اَؤ دَ
هغۀ بخښنه چه دَ يو سړى، يعنے عيسىٰ مسيح په وسيله شوے ده، په ډيرو خلقو
خامخا په اِفراط سره نازل شو. ۱۶ اَؤ بيا دا چه دَ خُدائے فضل دَ يو سړى دَ
ګُناه سره تلل نۀ دى په کار ځکه چه دَ يو سړى په ګُناه دَ مرګ فتوىٰ کيږى، خو دَ
خُدائے بخښنه دا ده چه هغه په خپل فضل دَ ډيرو ګُناهُونو نه دَ آزاديدو فيصله
کوى. ۱۷ که چرے دَ يو سړى په ګُناه دَ مرګ بادشاهى شوه نو دَ خُدائے فضل
به دَ دے په مُقابله کښے ډير زيات وى اَؤ دَ هغۀ دَ صداقت بخښنه به ژوندُون
وى، دَ هغه يو سړى په وسيله بادشاهى کوى چه عيسىٰ مسيح دے.

۱۸ نو بيا دا چه دَ يو سړى دَ ګُناه په وجه ټول خلق مُجرمان شول نو دَ يو سړى
دَ صداقت په وجه به ټولو خلقو له خلاصُون اَؤ ژوندُون ورکړى. ۱۹ ځکه چه دَ
يو سړى په نافرمانئ ډير ګُناه ګار شول نو هم دغه شان دَ يو سړى په فرمانبردارئ
به ډير صادِق کړے شى. ۲۰ نو ځکه شريعت راغے چه ګُناه زياته شى. خو
چرته چه ګُناه زياته شوه هلته فضل هم ډير زيات شو. ۲۱ ځکه څنګه چه ګُناه دَ
مرګ په وسيله خپله بادشاهى قائمه کړه، دغه شان دَ خُدائے فضل هم دَ صداقت
په وسيله خپله بادشاهى کوى چه دَ تل ژوندُون ته مُونږ دَ مالِک عيسىٰ مسيح په
وسيله بيائى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په ګُناه کښې مړۀ خو په مسيح کښې ژوندی

۶ ۱ نو بيا مُونږ په دے کښې څۀ ووايو؟ آيا مُونږ دِ تل په ګُناهونو کښې
بوخت يُو په دے چې فضل نور هم زيات شی؟ ۲ نه! هيڅ کله نه! چې مُونږ مړۀ
شولو چې نوره ګُناه ونۀ کړُو نو اوس څنګه په ګُناه کښې ژوند تيرولے شو؟ ۳
آيا تاسو په دے نۀ پوهيږئ څۀ؟ چې هر کله چې زمُونږ دَ عيسیٰ مسيح سره په
شامليدو بپتسمه وشوه نو مُونږ دَ هغۀ په مرګ کښې دَ شامليدو بپتسمه واخسته.
۴ اَؤ په دے بپتسمه مُونږ دَ هغۀ سره ښخ کړے شولُو اَؤ ورسره مړۀ شولُو، اَؤ
کله چې عيسیٰ دَ پلار په جلال کښې له مړو نه راپورته کړے شو نو دغه شان
مُونږ هم په نوی ژوندُون کښې شامل شُوو.

۵ نو که چرے مُونږ دَ هغۀ په مرګ کښې ورسره شامل شُوو نو دغه شان به دَ
هغۀ په بيا ژوندی کيدو کښې هم يُو. ۶ مُونږ ته دا معلُومه ده چې څنګه چې په
يو وخت کښې چې مُونږ وُو نو زمُونږ هغه زوړ اِنسانيت دَ مسيح سره په سولئ
کړے شوے دے چې دَ ګُناه ګار دَ نفس قُوت بے اثره کړی دَ دے دَ پاره چې
مُونږ دَ هغے نه پس نور دَ ګُناه غلامان نه شُو. ۷ ځکه چې کله چې يو سړے مړ
شی نو دَ ګُناه دَ قُوت نه آزاد شی ۸ خو که چرے مُونږ دَغسے دَ مسيح سره
مړۀ شوی يُو نو زمُونږ ايمان دے چې دَ هغۀ سره به ژوندی کيږُو هم. ۹ مُونږ ته
دا معلُومه ده چې مسيح يو ځل له مړو نه ژوندے شوے دے، نو بيا هيڅ کله مړ
کيدے نۀ شی اَؤ مرګ په هغۀ باندے نور هيڅ واک اِختيار نۀ لری. ۱۰ کله چې
هغه مړ شو نو هغه دَ ګُناه دَ پاره يو ځل مړ شو اَؤ بيا دوباره نۀ مری، اَؤ په
ژوندانۀ کښې چې هغه ژوندے دے نو هغه دَ خُدائے په نِزد ژوندے دے. ۱۱ هم
دغه شان تاسو خپل ځانُونه دَ ګُناه دَ پاره مړۀ وګڼئ اَؤ دَ عيسیٰ مسيح سره په
شامليدو کښې دَ خُدائے په نزد ژوندی يئ.

۱۲ نو ځکه ستاسو په فانی ژوندُون کښې دِ دَ ګُناه نور اِختيار نۀ وی چې دَ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِنسانی خواهشاتو دَ پُوره کولو حُکم ئے ومنئ. ۱۳ دَ دے نه پس تاسو دَ خپل وجُود اَندامُونه دَ گُناه دَ پاره مه اِستعمالوئ اَؤ خپل ځانُونه خُدائے ته وسپارئ، داسے لکه مړۀ چه بیا راژوندی شوی دی، اَؤ خپل اَندامُونه هغۀ ته دَ صداقت دَ پاره اِستعمالوئ، ۱۴ دَ دے دَ پاره چه گُناه نور په تاسو باندے حُکم ونۀ چلوی ځکه چه تاسو نور دَ شریعت دَ لاندے نۀ یئ بلکه دَ خُدائے دَ فضل دَ لاندے یئ.

## دَ صداقت غُلامان

۱۵ بیا نو څنګه؟ مُونږ دِ ګُناه کوُو ځکه چه مُونږ دَ شریعت نه آزاد یُو اَؤ دَ فضل دَ لاندے یُو؟ هیڅ کله نه! ۱۶ تاسو ته ښه معلُومه ده چه تاسو چه کُوم مالِک ته ځان وقف کړئ اَؤ دَ هغۀ فرمانبردار شئ نو دَ هغۀ غُلامان یئ. تاسو دَ ګُناه فرمانبرداری کولے شئ خو انجام به ئے مرګ وی، یا دَ خُدائے فرمانبرداری چه انجام ئے صداقت دے. ۱۷ نو دَ خُدائے شکر په دے په کار دے چه تاسو په یو وخت کښے دَ ګُناه غُلامان وئ خو اوس دَ زړۀ دَ اِخلاصه دَ هغه دَ تعلیم کُوم چه تاسو ته په حواله شوے دے، فرمانبردار یئ، ۱۸ اَؤ دَ ګُناه نه آزاد کړے شوئ اَؤ دَ صداقت غُلامان شوی یئ. ۱۹ زَۀ ستاسو دَ اِنسانی کمزورتیاؤ په سبب په عامو اَلفاظو کښے وایم، لکه څنګه چه تاسو یو ځلے خپل ځانُونه دَ ناپاکئ اَؤ بدراهئ دَ پاره غُلامان کړی وُو نو دغه شان ئے اوس دَ صداقت دَ پاره غُلامان کړئ چه مُقدس شئ. ۲۰ کله چه تاسو دَ ګُناه غُلامان وئ نو تاسو دَ صداقت نه آزاد وئ. ۲۱ نو فائده ئے څۀ وه؟ هغه دا وه چه اوس پرے شرمیږئ ځکه چه انجام ئے مرګ دے! ۲۲ خو اوس تاسو دَ ګُناه دَ غُلامئ نه آزاد یئ اَؤ دَ خُدائے غُلامان یئ، نو تاسو خُدائے ته وقف شوی یئ اَؤ اَنجام مُو دَ تل ژوندُون دے. ۲۳ ځکه چه دَ ګُناه بدل مرګ دے خو دَ خُدائے بخښنه زمُونږ په مالِک عیسیٰ مسیح کښے دَ تل ژوندُون دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ وادۀ په باب کښې مِثال

۷ ۱ زما ورُوڼو! تاسو نۀ پوهیږئ څۀ؟ زۀ تاسو ته ځکه وایم چه څۀ نه څۀ په
شریعت پوهیږئ چه سړے دَ شریعت تر هغې پابند دے تر څو چه هغه ژوندے
وی. ۲ دَ هغې نه پس دَ مِثال په طور یوه وادۀ شوې ښځه تر هغې دَ خپل
خاوند پابنده ده تر څو چه هغه ژوندے وی، خو که دَ هغې خاوند مړ شی نو بیا
هغه دَ وادۀ دَ شرعی پابندو نه خلاصه شی. ۳ نو په دے وجه که هغه دَ خپل
خاوند په ژوندانۀ دَ بل سړی سره لاړه شی نو هغه زِنا کوی، خو که چرے دَ هغې
خاوند مړ شی نو هغه دَ شریعت په مُطابق آزاده ده، نو هغه که چرے بیا دَ بل
سړی سره وادۀ وکړی نو زِنا کاره نۀ وی. ۴ نو زما ورُوڼو! تاسو هم دَ شریعت
نه په خپل مرګ آزاد شوی یئ ځکه تاسو دَ عیسیٰ دَ وجُود سره تړلی یئ اؤ اوس
دَ هغۀ خپل شوی یئ چه هغه دَ مړو نه بیا ژوندے شوے دے، دَ دے دَ پاره چه
مُونږ دَ خُدائے ښۀ خدمت وکړُو. ۵ څۀ وخت چه مُونږ دَ خپل اِنسانی فطرت
په مُطابق ژوند تیرولو نو زمُونږ دَ ګُناهُونو خواهشات دَ شریعت په وجه
رابیداریدل چه نتیجه ئے مرګ ده. ۶ خو اوس چه مُونږ دَ هغه څیزُونو دَ پاره
مړۀ یُو دَ کُومو چه مُونږ پابندی کړے وه نو مُونږ دَ شریعت نه په دے شان آزاد
یُو چه دَ خُدائے دَ رُوح په نوی شان خدمت وکړُو، نۀ په زوړ شان دَ لیکلی شوی
شریعت په مُطابق.

## دَ باطنی ګُناه مسئله

۷ نو مُونږ به بیا څۀ وایو؟ آیا شریعت ګُناه دے څۀ؟ یقیناً چه نه! خو که
شریعت نۀ وے نو زۀ به په ګُناه پوهه شوے نۀ وے، ولے چه ما به دا هیڅ کله
هم نۀ وے پیژندلے چه لالچ څۀ شے وی، که چرے شریعت دا نۀ وے ویلے چه
”تاسو لالچ مه کوئ.“ ۸ هم دَ دے حُکم په وسیله ګُناه ته داسے موقع په لاس
ورغله چه په ما کښې ئے هر قِسم لالچ پیدا کړو. چه شریعت نۀ وی نو ګُناه مړه


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده. ﴿۹﴾ يو وخت داسې وو چه دَ شريعت په غير موجُودګئ کښې زَهٔ ژوندے وم، خو هر کله چه حُکم راغے نو ګُناه ژوندئ شوه اَوْ زَهٔ مړ شوم. ﴿۱۰﴾ اَوْ کُوم حُکم چه زما دَ ژوند دَ پاره وو، زما دَ پاره مرګ شو. ﴿۱۱﴾ ځکه چه ګُناه په شرعى حُکم کښې موقعه ومُونده اَوْ زَهٔ ئے وغُلولم اَوْ دَ شريعت په حُکمُونو ئے مړ کړم.

﴿۱۲﴾ نو ځکه شريعت پاک دے اَوْ حُکم ئے هم پاک دے اَوْ اِنصاف اَوْ ښهٔ دے.
﴿۱۳﴾ نو بيا مُونږ دا وئيلے شُو، څهٔ چه دا ښه څيز ګنى زما دَ پاره مرګ شو؟ نه، هيڅ کله نه! دا خو ګُناه وه چه زَهٔ ئے دَ ښهٔ څيز په وسيله ووژلم اَوْ هم په دے شان ګُناه خپل اصلى شکل ښکاره کړو. اَوْ دغه شان دَ حُکم په وسيله ګُناه دَ نور کله نه زياته بده شوه. ﴿۱۴﴾ مُونږ پوهيږو چه شريعت رُوحانى دے خو زَهٔ غير رُوحانى يم اَوْ په ګُناه خرڅ شوے يم. ﴿۱۵﴾ زَهٔ نهٔ پوهيږم چه څهٔ کُوم؟ څهٔ چه زَهٔ کول غواړم، هغه نهٔ کوم، بلکه هغه کوم چه ترے نفرت لرم. ﴿۱۶﴾ خو که چرے څهٔ چه زَهٔ کوم، هغه نهٔ خوښوم، نو منم چه شريعت درست دے. ﴿۱۷﴾ نو بيا دَ هغهٔ کوُونکے زَهٔ نهٔ يم بلکه ګُناه ده چه په ما کښې موجُوده ده، هغه ئے کوى.
﴿۱۸﴾ ځکه چه ما ته معلُومه ده چه زما په ذات کښې هيڅ نيکى نِشته، مطلب مے دَ خپل اِنسانى فطرت نه دے، ځکه چه زَهٔ دَ نيکئ کولو خواهش لرم خو کولے ئے نهٔ شم. ﴿۱۹﴾ زَهٔ چه څهٔ نيکى کول غواړم، نهٔ ئے کوم، خو چه زَهٔ څهٔ بد کول نهٔ غواړم، هغه کوم. ﴿۲۰﴾ اَوْ که څهٔ چه زَهٔ کول نهٔ غواړم هغه کوم، نو ښکاره خبره ده چه کوُونکے ئے زَهٔ نهٔ يم بلکه هغه ګُناه ده چه په ما کښې ده.

﴿۲۱﴾ نو بيا ما دا اُصول هغه وخت معلُوم کړو چه هر کله چه زَهٔ نيکى کول غواړم نو صرف بدى کولے شم. ﴿۲۲﴾ زَهٔ په باطن کښې دَ خُدائے په شريعت خوشحاله يم. ﴿۲۳﴾ خو زَهٔ چه دَ خپل وجُود په اَندامُونو کښې يو بل شريعت وينم چه هغه زما دَ عقل دَ منلى شوى شريعت سره په جنګ دے اَوْ ما دَ ګُناه په هغه شريعت کښې قيدوى چه زما په اَندامُونو کښې دے. ﴿۲۴﴾ هائے زَهٔ څومره غم زپلے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سړے یم! نو هغه څوک دے چه ما به دَ مرګ دَ وجُود نه راخلاص کړی؟ ۲۵
زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله دَ خُدائے شکر دے!

غرض دا چه زَهٔ په باطن کښے دَ خُدائے دَ شریعت خدمت کوم خو په اِنسانی
فطرت کښے دَ ګُناه دَ شریعت خدمت کوم.

## رُوحانی ژوندُون

۸ ۱ لنډه دا چه څوک چه دَ عیسیٰ مسیح سره یووالے لری، دَ هغوئ مُجرم
کیدل نِشته. ۲ ځکه چه په عیسیٰ مسیح کښے دَ ژوند ورکُوونکی دَ رُوح
شریعت زَهٔ دَ ګُناه اَؤ دَ مرګ له شریعت نه آزاد کړلم. ۳ اَؤ هغه څهٔ چه
شریعت نهٔ شو پُوره کولے ځکه چه اِنسانی فطرت کمزورے وو، نو خُدائے
داسے وکړل چه خپل زوئے ئے په ګُناه ګار اِنسانی وجُود کښے راواستولو اَؤ دَ
ګُناه کِفاره ئے کړو اَؤ دغسے هغهٔ ګُناه په اِنسانی فطرت کښے مُجرمه کړه،
۴ دَ دے دَ پاره چه دَ شریعت هغه حُکم په مُونږ کښے پُوره شی چه دَ رُوح په
مُطابق ژوندُون تیروو، نهٔ چه دَ اِنسانی فطرت په مُطابق. ۵ هغه څوک چه
اِنسانی دی نو دَ اِنسانی فطرت په مُطابق اوسی اَؤ څوک چه رُوحانی دی نو
هغوئ دَ رُوح په مُطابق اوسی. ۶ په اِنسانی فطرت کښے دَ اوسیدلو اَنجام
مرګ دے اَؤ په رُوح کښے دَ اوسیدلو اَنجام ژوندُون اَؤ سلامتی ده. ۷ ځکه
چه اِنسانی فطرت لرُونکے دَ خُدائے سره دُښمنی کوی اَؤ دا دَ خُدائے دَ
شریعت تابعداری نهٔ ده اَؤ نهٔ کیدے شی. ۸ هغه څوک چه دَ اِنسانی فطرت په
مُطابق اوسی، هغوئ هیڅ کله هم خُدائے رضا کولے نهٔ شی. ۹ تاسو دَ اِنسانی
فطرت په مُطابق نهٔ یئ خو دَ رُوح په مُطابق یئ، که دَ خُدائے رُوح په تاسو کښے
اوسی. اَؤ که څوک دَ مسیح رُوح نهٔ لری نو هم دَ هغهٔ نهٔ دے. ۱۰ خو که چرے
مسیح په تاسو کښے اوسی نو دَ هغهٔ رُوح ستاسو دَ پاره ژوندُون دے، ځکه چه
خُدائے دَ خپل ځان سره تاسو صادِق کړلئ سره دَ دے چه وجُود مو دَ ګُناه په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وجه مړ دے. ⑪ که چرے دَ خُدائے رُوح په تاسو کښے اوسی نو بیا خُدائے چا چه عیسیٰ دَ مړو نه ژوندے کړے دے، به ستاسو دے فانی وجُودونو ته هم نوے ژوند ورکړی، دَ هغهٔ دَ رُوح په وسیله چه په تاسو کښے اوسی. ⑫ اَئے زما ورُونړو! دَ دے مطلب دا دے چه مُونږ مجبُور خو یُو، خو داسے نه چه دَ اِنسانی فطرت په مُطابق ژوندُون تیر کړو. ⑬ که چرے تاسو دغسے ژوند تیر کړئ نو خود به مرئ، خو که چرے دَ رُوح په وسیله تاسو دَ وجُود ټول اِنسانی خواهشات مړهٔ کړئ نو بیا به تاسو ژوندی پاتے شئ. ⑭ ځکه چه هر څوک چه دَ خُدائے دَ رُوح په هدایت چلیږی، هغه دَ خُدائے بچی دی. ⑮ اَؤ کوم رُوح چه تاسو مُوندے دے، هغه دَ غُلامئ هغه رُوح نهٔ دے چه تاسو بیا ویره وی، خو هغه رُوح دے کُوم چه مُونږ بچی جوړوی اَؤ مُونږ دَ دے قابل کوی چه مُونږ ووایو، "آبا!" یعنے، "اَئے پلاره!" ⑯ په دے وئیلو سره دَ خُدائے رُوح زمُونږ دَ رُوح سره هم دا وائی دَ دے ګواهئ دَ پاره چه مُونږ دَ خُدائے بچی یُو، ⑰ اَؤ چه بچی یُو نو وارثان هم یُو. مُونږ دَ خُدائے وارثان اَؤ دَ مسیح په میراث کښے شریک یُو، که داسے وی چه مُونږ دَ هغهٔ دَ تکلیفُونو په زغملو کښے شامل یُو نو دَ هغهٔ په جلال کښے به هم شامل شُو.

## راتلُونکے جلال

⑱ زما په خیال کښے دَ دے وخت دا تکلیفُونه چه مُونږ ئے زغمُو دَ هغه جلال سره هیڅ مُطابقت نهٔ لری کُوم چه په مُونږ باندے ظاهریدُونکے دے. ⑲ دا پیدا کړے مخلُوقات ډیر په بے صبرئ سره دَ خُدائے دَ بچو دَ ظهُور منتظر دی. ⑳ ځکه چه مخلُوقات دَ فنا تابع کړے شول، نهٔ دَ هغوئ په رضا بلکه دَ خُدائے په رضا، خو دا ئے اُمید وو ㉑ چه مخلُوقات به یوه ورځ دَ فنا کیدو نه آزاد شی اَؤ دَ خُدائے دَ بچو دَ جلال په آزادئ کښے به شامل شی. ㉒ تر دے پُورے مُونږ ته دا معلُومه ده چه ټول مخلُوقات تر اوسه هر چرته ناقلاره دی، داسے لکه چه دَ ماشُوم دَ زیږیدو دَ وخت دردُونه وی. ㉓ یواځے مخلُوقات نه بلکه مُونږ هم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چا ته چه رُوح دَ وړومبئ میوے په څیر وړکړے شوے دے چه په خپل باطن
کښے ناقلاره یُو اَوْ مُونږ په دے اِنتظار کښے یُو چه خُدائے مُونږ په خپل زوئے
والی کښے واخلی اَوْ زمُونږ ټول وجُود آزاد کړی. ۲۴ ځکه چه دَ دے اُمید په
وسیله مُونږ خلاصُون ومُوندو، خو که مُونږ دَ هغه څیز اُمید کوُو چه مُونږ ئے
وینو نو هغه رښتینے اُمید نهٔ دے. څوک دَ هغه څیز اُمید کوی چه وینی ئے؟ ۲۵
خو که چرے مُونږ دَ هغه څیز په اُمید یُو چه لا ئے نهٔ وینو نو بیا به په صبر سره
دَ هغهٔ اِنتظار کوُو.

۲۶ رُوحُ القُدس هم په دے شان زمُونږ په کمزورتیاؤ کښے مدد کوی. مُونږ ته
دا هم نهٔ ده معلُومه چه دُعا څنګه کول په کار دی خو رُوحُ القُدس په اسویلو
زمُونږ شفاعت کوی چه په لفظُونو کښے نهٔ شی بیان کیدلے. ۲۷ اَوْ خُدائے
څوک چه زمُونږ دَ زړُونو لیدُونکے دے، هغهٔ ته دا معلُومه ده چه دَ دے رُوحُ
القُدس خیال څهٔ دے ځکه چه هغه دَ خُدائے دَ خلقو دَ پاره دَ خُدائے دَ مرضئ
په مُطابق شفاعت کوی.

۲۸ اَوْ لکه چه مُونږ ته معلُومه ده چه خُدائے په هر څیز کښے دَ هغوئ دَ پاره
ښهٔ پیدا کوی څوک چه دَ خُدائے سره مینه لری اَوْ دَ هغهٔ دَ مرضئ په مُطابق
رابللے شوی دی. ۲۹ ځکه چه خُدائے خپل خلق دَ هغه وخت راسے پیژندل
چه دوئ لا نهٔ وُو اَوْ بیا ئے حُکم وکړو چه دوئ دِ دَ هغهٔ دَ زوی دَ صُورت په
شان شی، دَ دے دَ پاره چه هغه په دے ټولو وروُنړو کښے مشر ورور وګرزی.
۳۰ اَوْ هم دا دَ مخکښے نه مُقرر کړی شوی هم وُو اَوْ هغه څوک چه هغهٔ رابللی
دی، هغه ئے صادِقان کړی هم دی، اَوْ هغه څوک چه دَهٔ صادِقان کړی دی،
هغوئ ته ئے خپل جلال هم وربخښلے دے.

## دَ خُدائے مینه

۳۱ نو اوس مُونږ دَ دے خبرو په حق کښے څهٔ وئیلے شُو؟ که خُدائے زمُونږ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په طرف دے نو بيا زمُونږ مُخالف څوک کيدے شى؟ ۝٣٢ هغۀ خو خپل زوئے هم پرے نۀ ښودو اَؤ زمُونږ ټولو دَ پاره ئے قربان کړو، نو دَ دے بخښنے سره به نور ټول څيزُونه رانۀ کړى څۀ؟ ۝٣٣ څوک دَ خُدائے په غوره کسانو باندے اِلزام لګولے شى؟ چه خُدائے په خپله دوئ صادِقوى، ۝٣٤ نو بيا څوک دوئ مجرمان کولے شى؟ دا مسيح دے چه مړ شو اَؤ دَ دے نه لا سيوا دا چه دَ مړو نه بيا ژوندے کړے شو چه دَ خُدائے په ښى لاس ناست دے اَؤ بے شکه چه زمُونږ شفاعت کوى. ۝٣٥ نو بيا هغه کُوم څيز دے چه مُونږ به دَ مسيح دَ مينے نه جُدا کړى؟ آيا سختے يا مُصيبتُونه داسے کولے شى؟ آيا ظُلم، زياتے، لوږه، بربنډتوب، خطرے يا تُوره داسے کولے شى؟ ۝٣٦ لکه چه په صحيفو کښے راغلى دى چه :

”مُونږ ټوله ورځ دَ مرګ سره ستا په خاطر مخامخ کيږُو،

اَؤ مُونږ سره دَ حلاليدُونکو ګډو په شان سلوک کيږى.“

۝٣٧ خو بيا هم دَ دے هر څۀ سره ښکاره کامله فتح بيا مُومُو دَ هغه چا په وسيله څوک چه مُونږ سره مينه کوى! ۝٣٨ ځکه چه زما دا باور دے چه دَ خُدائے دَ مينے نه چه مُونږ ئے په خپل مالِک عيسىٰ مسيح کښے لرو، نۀ مرګ اَؤ نۀ ژوندُون، نۀ فرښتے، نۀ نور آسمانى حاکمان، نۀ قُوتُونه، ۝٣٩ نۀ اوسنى اَؤ نۀ راتلُونکى څيزُونه، نۀ پاسنۍ دُنيا اَؤ نۀ لاندينۍ دُنيا اَؤ نۀ په څۀ مخلُوقات کښے داسے هيڅ څيز نِشته چه مُونږ جُدا کولے شى.

## خُدائے دَ بنى اِسرائيلو غوره کول

٩ ۝١ رښتيا وايم ځکه چه زۀ په مسيح پورے تعلق لرم، دروغ نۀ وايم، اَؤ زما خپل ضمير دَ رُوحُ القُدس په وسيله زما ګواه دے ۝٢ چه زما دَ قومى خپلوانو دَ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاطره زما په زړهٔ کښے ډير غم اَؤ نهٔ ختميدونکے درد دے. ۞ ځکه چه زما
خوښه ده چه زهٔ دِ دَ خپلو ورُوڼو دَ خاطره چه زما قومی خپلوان دی، لعنتی شم
اَؤ دَ دوئ دَ پاره دِ زهٔ دَ مسيح نه جُدا شم. ۞ هغوئ اِسرائيليان دی اَؤ هغوئ دَ
خُدائے بچی بللے شوی دی اَؤ دَ جلال حقدار اَؤ دَ وعدے، اَؤ شريعت اَؤ عبادت
اَؤ لوظُونه ټول دَ هغوئ دی. ۞ دَ قوم بزرګان دَ هغوئ دی اَؤ دَ هغوئ نه په
اِنسانی طور مسيح هم پيدا دے چه خُدائے دے اَؤ له ټولو نه اُوچت دے اَؤ تل تر
تله دَ ثنا لائق دے، آمين. ۞ دا نامُمکنه ده چه دَ خُدائے کلام غلط ثابت شوے
وی ځکه چه دَ يعقُوب ټول اَؤلاد غوره اِسرائيليان نهٔ دی. ۞ اَؤ نهٔ دَ اِبراهيم ټول
اَؤلاد دَ خُدائے بچی دی، خو لکه چه صحيفے وائی چه : "دَ اِسحاق په نسل
کښے به ستا اَؤلاد پيدا کيږی." ۞ مطلب دا چه هغوئ چه دَ جِسم په مُطابق
وزيږيدل، هغوئ دَ خُدائے زامن نهٔ دی بلکه دَ خُدائے دَ وعدے په مُطابق زيږدلی
دَ اِبراهيم اَؤلاد بللے شی. ۞ ځکه چه وعده داسے وه چه "په مُقرر وخت به زهٔ
راځم اَؤ ساره به يو زوئے راؤړی."

۞ خو خبره تر دے نهٔ ده، ځکه چه دَ رِبقه دَ دوؤ زامنو يو پلار وو، يعنے
زمُونږ نيکهٔ اِسحاق ۞ نو ربقے ته دَ هغوئ دَ زيږيدو نه آګاهو ووئيلے شول چه
په هغه وخت کښے چه هغوئ لا هيڅ ښهٔ يا بد نهٔ وُو کړی، خو بيا هم دَ دے دَ
پاره چه دَ خُدائے هغه ټاکلے مقصد تر سره شی کُوم چه دَ عمل په وسيله نهٔ
دے بلکه دَ خُدائے په بلنه، ۞ نو هغے ته وئيلی شوی وُو چه : "مشر به دَ کشر
خادم وی." ۞ اَؤ دا په صحيفو کښے ليکلی دی چه : "يعقُوب سره مے مينه
وکړله اَؤ عيساؤ سره کينه."

۞ نو په دے باب کښے مُونږ څهٔ ووايُو؟ آيا خُدائے بے اِنصافه دے څهٔ؟ هيڅ
کله نه. ۞ لکه چه هغهٔ مُوسیٰ ته ووئيل چه : "په چا چه زهٔ رحم کوم، په هغه به
ئے کوم اَؤ په چا چه زهٔ ترس کوم، په هغه به ئے کوم." ۞ نو دا به بيا په
خوښوُونکی يا کوُونکی پورے نهٔ ده بلکه دَ خُدائے په رحم باندے ده. ۞ لکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه صحيفه فرعون ته وائی چه : ”ما تهٔ دَ دے مقصد دَ پاره پيدا کړے ئے چه په تا خپل قُدرت ښکاره کړم اَؤ چه زما نُوم په ټوله دُنيا کښے ښکاره شی.“ ١٨ دغه شان هغه دَ خپلے رضا په مُطابق په چا رحم کوی اَؤ بعضے سختوی هم.

## دَ خُدائے غضب اَؤ رحم

١٩ نو تهٔ به ما ته وايئے چه بيا خُدائے سړے ولے ملامتوی ځکه چه دَ هغهٔ دَ مرضئ مُخالفت څوک کولے شی؟ ٢٠ اَئے صاحبه! تهٔ څوک يئے چه خُدائے ته به واپس جواب ورکوے؟ ”آيا يو لوښے کُلال ته دا وئيلے شی چه تا زَهٔ په دے رنګ ولے ساز کړلم؟“ ٢١ بے شکه کُلال چه دَ خټے سره څهٔ کول غواړی، هغه کولے شی. آيا هغه دَ مرضئ خاوند نهٔ دے چه دَ دغه خاوړے نه دوه لوښی جوړ کړی، يو دَ خاص اِستعمال دَ پاره اَؤ بل دَ عام اِستعمال دَ پاره؟

٢٢ خو څهٔ خبره ده، که دَ خُدائے مرضی وه چه خپل غضب وښائی اَؤ خپل طاقت ښکاره کړی نو ځکه ئے دَ غضب هغه لوښو سره ډير صبر وکړو چه دَ ورک کيدو دَ پاره تيار شوی وُو، ٢٣ له پاره دَ دے چه دَ خپلے لويئ دولت دَ رحم په لوښو ښکاره کړی کُوم ئے چه اول دَ لويئ دَ پاره ساز کړی وُو. ٢٤ هغه مُونږ يُو چه هغهٔ نهٔ يواځے دَ يهُوديانو نه خو هم ئے دَ غير يهُوديانو نه رابللی يُو. ٢٥ لکه چه ئے دَ هوشع په کتاب کښے ليکلی دی چه :

”څوک چه زما اُمت نهٔ وو، هغوئ ته به خپل اُمت ووايم،

اَؤ کُوم قام چه محبُوب نهٔ وو، هغهٔ ته به خپل محبُوب ووايم.

٢٦ ځکه چه په کُوم ځائے کښے چه هغوئ ته

دا وئيلے شوی وُو چه تاسو زما اُمت نهٔ يئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ ته به دَ رب الحئ زامن ووئيلے شی.“

٢٧ خو يشعياه دا خبره دَ بنی اِسرائيلو په حق کښے په چغو وائی چه : ”سره دَ دے چه بنی اِسرائيل به دَ سمندر دَ شګو په شان بے شميره وی، خو لږ به ئے خلاصُون ومُومی، ٢٨ ځکه چه دَ رب په مزکه عدالت به لنډ اَؤ آخری وی.“ ٢٩ لکه چه يشعياه وړاندے هم وئيلی وُو چه : ”که رب العاسکر مُونږ ته زمُونږ دَ نسل نه څۀ باقی نۀ وے پريښے نو مُونږ به دَ صدُوم دَ ښار په شان شوی وُو اَؤ دَ عُموره دَ ښار په حساب به راغلی وُو.“

## اِسرائيل اَؤ زيرے

٣٠ نو بيا مُونږ څۀ ووايُو؟ چه غير يهُودی قومُونه چه دَ خُدائے سره دَ صادِق کيدلو کوشِش ئے ونۀ کړو خو هغۀ هغوئ دَ ايمان په وسيله صادِق کړل. ٣١ خو بل پلو چه بنی اِسرائيلو چه دَ شريعت په وسيله دَ خُدائے سره دَ صادِق کيدلو کوشِش وکړو نو هغوئ کامياب نۀ شول. ٣٢ داسے ولے وشول؟ دَ دے وجه دا وه چه دَ هغوئ کوشِش دَ ايمان په وسيله نۀ وو بلکه په عمل وو. هغوئ په کاڼی تيندک وخوړلو. ٣٣ لکه چه صحيفے وائی چه :

”ګورئ، زۀ دلته په صيُون کښے

دَ تيندک يو کاڼے اَؤ دَ غورزولو دَ پاره يو ګټ ږدم،

خو څوک چه په هغۀ ايمان لری، هغه به شرمولے نۀ شی.“

١٠ ١ ورُونړو! زما دَ زړۀ خوښه اَؤ دَ خُدائے نه دُعا ده چه زما خپل خلق خلاصُون ومُومی. ٢ دَ خُدائے په حقله دَ هغوئ دَ جوش ګواهی کوم خو هغه يو غلط جوش دے. ٣ ځکه چه هغوئ نۀ پيژنی چه خُدائے څنګه بنی آدم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صادِقوی خو هغوئ په خپلو عملُونو سره دَ صادِق کیدلو کوشِش کوی، ځکه خو هغوئ دَ خُدائے دَ صداقت تابعدار شوی نهٔ دی. ۴ په مسیح دَ شریعت هدف انجام ته رسیدلے دے، دَ دے دَ پاره چه هر څوک چه پرے ایمان راؤړی، دَ خُدائے سره به صادِق وی.

## دَ هر چا دَ پاره خلاصُون

۵ دَ شرعی صداقت په باب کښے مُوسیٰ لیکلی دی چه : "هر څوک چه دَ شریعت په مُطابق داسے کوی نو هغه به په دے ژوندُون بیا مُومی." ۶ خو کُوم صداقت چه په ایمان راځی صحیفه وائی چه : "ځان ته داسے مه وایه چه څوک پاس آسمان ته ختلے شی؟" دَ دے دَ پاره چه مسیح لاندے راولی. ۷ "اَؤ څوک لاندے تحت الثریٰ ته تلے شی؟" چه مسیح دَ مړو نه راپاڅوی. ۸ خو هغه څهٔ وائی؟ "کلام درسره نزدے دے، دا ستا په شُونډو اَؤ ستا په زړهٔ کښے دے." دا دَ ایمان کلام دے چه مُونږ ئے بیانوُو. ۹ ځکه که ستا په خُلهٔ دا اِقرار وی چه عیسیٰ مالِک دے اَؤ په زړهٔ کښے دِ دا ایمان وی چه خُدائے هغه دَ مړو نه راپاڅولو نو تهٔ به خلاصُون بیا مُومے. ۱۰ ولے چه مُونږ په زړهٔ سره ایمان راؤړو اَؤ خُدائے مُونږ صادِقوی، اَؤ په خُلهٔ دا اِقرار کوُو نو خلاصُون به بیا مُومُو. ۱۱ صحیفه وائی چه : "هر څوک چه په هغهٔ ایمان لری، هغه به شرمولے نهٔ شی." ۱۲ نو دلته په یهُودی اَؤ په غیر یهُودی کښے هیڅ فرق نِشته ځکه چه هم دغه یو خُدائے دَ ټولو مالِک دے اَؤ دَ هر چا دَ پاره چه هغهٔ ته زاری کوی، غنی دے. ۱۳ لکه چه صحیفے وائی چه : "هر هغه څوک چه دَ مالِک په نُوم زاری کوی، هغه به خلاصُون بیا مُومی."

۱۴ نو په چا چه هغوئ ایمان نهٔ لری نو هغهٔ ته به زاری څنګه وکړی؟ اَؤ دَ چا په باب کښے ئے چه څهٔ آؤریدلی نهٔ وی، په هغهٔ به ایمان څنګه راؤړے شی؟ اَؤ څوک چه ورته وعظ ونهٔ کړی نو څنګه به آؤری؟ ۱۵ اَؤ تر څو چه دَ دے کار دَ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاره ونۀ ليږلے شى نو هغه به وعظ څنګه وکړى؟ دا هغه څۀ دى چه صحيفے
وائى چه : ”دَ زيرى راوړُونکو قدمُونه څنګه ښکلى دى!“ ⑯ خو ټول دَ زيرى
فرمانبردار نۀ شول لکه چه يشعياه وائى چه : ”اَئے ربه! چا زمُونږ په زيرى يقين
وکړو؟“ ⑰ اَؤ ايمان دَ زيرى په آؤريدلو پيدا کيږى اَؤ آؤريدل دَ مسيح په باب
کښے دَ زيرى ورکولو نه.

⑱ خو زَۀ تپوس کوم چه آيا دا دوئ چرے هم آؤريدلى نۀ وُو؟ بے شکه چه
آؤريدلى ئے وُو، څنګه چه ليکلى دى :

”دَ هغوئ آواز په ټوله دُنيا کښے آؤريدلے شوے وو،

اَؤ دَ هغوئ کلام دَ دُنيا ټولو استوګنو

حدُونو پورے رسيدلے وو.“

⑲ خو زَۀ بيا تپوس کوم چه آيا بنى اِسرائيلو دا نۀ پيژندو؟ اول خو مُوسىٰ دا
وائى چه

”دَ داسے خلقو په وسيله چه قوم ورته نۀ شى وئيلے

زَۀ به ستاسو غيرت راوپاروم،

اَؤ دَ کم عقل قوم په وسيله به مو قهر راولړزوم.“

⑳ خو يشعياه په نوره زړه ورتيا بيان کوى، هغه وائى چه :

”زَۀ هغه چا ومُوندلم چا چه زما لټُون نۀ کولو،

اَؤ زَۀ هغه چا ته ښکاره ښرګند کړے شوم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چا چه زما په باب کښې پوښتنه نهٔ کوله.“

٢١ خو دَ بنی اِسرائیلو په حقله هغه وائی چه : ”تهوله ورځ مې هغه خلقو ته لاسُونه اُوږدهٔ کړل چه نافرمانه دی اَوُ چه مُخالفې خبرې کوی.“

## دَ اِسرائیل بقیه

١١ ١ نو بیا زهٔ تپوس کوم چه آیا خُدائې خپل اُمت رد کړې دې څهٔ؟ بلکل نه! ولې چه زهٔ هم بنی اِسرائیل یم دَ اِبراهیم دَ نسل نه یم اَوُ دَ بنیامین له خیل نه. ٢ خُدائې خپل اُمت نهٔ دې رد کړې چه پخوا ئې غوره کړې وو. تاسو خبر نهٔ یئ چه صحیفې دَ اِلیاس په حقله څهٔ وائی؟ چه اِلیاس څنګه دَ خُدائې سره دَ بنی اِسرائیلو په خلاف بحث کوی چه : ٣ ”مالِکه! هغوئ ستا نبیان مړهٔ کړی دی، ستا قُربانګاه ئې نړولې ده، اَوُ زهٔ یواځې پاتې شوې یم اَوُ هغوئ زما په ژوندُون پسې دی.“ ٤ خو خُدائې هغهٔ ته څهٔ جواب ورکړو؟ ”ما ځان ته اُووهٔ زره سړی ساتلی دی چه دروغجن خُدائې بعل ته په سجده شوی نهٔ دی.“ ٥ هم دغه شان په موجُوده وخت کښې یو بقایا ټولئې پاتې شوې دې چه دَ خُدائې په فضل غوره کړې شوې دې. ٦ که چرې دا په فضل وی نو بیا دَ دې بُنیاد په کړی عمل نهٔ دې، اَوُ که نه، نو فضل بیا فضل پاتې نهٔ شو.

٧ نو بیا څهٔ؟ اِسرائیلو چه څهٔ لټول، هغه ئې ونهٔ مُوندل بلکه څو غوره کړو ومُوندل، نور دَ خُدائې بلنې ته کاڼهٔ شول. ٨ هم دغه شان لیکلی شوی دی چه : ”خُدائې ورله دَ پرکالئ رُوح ورکړو. هغهٔ دوئ ته تر نن ورځې پورې داسې سترګې چه لیدلې نهٔ شی اَوُ غوږُونه چه آوُریدلې نهٔ شی، ورکړل.“ ٩ اَوُ په دې رنګ داؤد وائی چه :

”دَ هغوئ دسترخوان دِ جال اَوُ دام شی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه هغوئ په خپله په کښې راګير شی.

(۱۰) دَ هغوئ په سترګو دِ داسې تيارے راشی

چه ليدے نۀ شی،

دَ هغوئ شا هر وخت تيټه ساته.“

(۱۱) خو اوس زۀ تپوس کوم، کله چه هغوئ تيندک وخوړلو نو هغوئ دَ تل دَ پاره پرېوتل څۀ؟ نه، بيخی نه! بلکه دَ هغوئ دَ تيندک خوړلو په سبب غير يهُوديانو خلاصُون ومُوندو، نو په دے سبب يهُوديانو له هغوئ سره حسد وکړو. (۱۲) خبره داسې ده، که دَ يهُوديانو قصُور دَ دُنيا دَ پاره دَ برکت وسيله وګرزولے شوه اَؤ دَ هغوئ پرېوتل هم دَ غير يهُوديانو دَ پاره دَ برکت وسيله وګرزولے شوه نو په هغوئ کښې دَ بچ کوُونکو شمار پُوره کيدل به دَ څومره زيات برکت وسيله وی.

## دَ غير يهُوديانو دَ پاره خلاصُون

(۱۳) خو زۀ تاسو غير يهُوديانو ته څۀ خبرے کول غواړم. زۀ دَ غير يهُوديانو رسُول يم اَؤ دَ خپل خدمت لوئی بيانوم، (۱۴) چه دغه شان زۀ په خپل قوم کښې غيرت پيدا کړم چه په هغوئ کښې څنې خلاصُون ومُومی. (۱۵) ځکه چه که دَ هغوئ رد کيدل دَ دُنيا پُخلا کيدل شول نو دَ هغوئ بيا قبليدل به مړو ته دَ ژوندُون نه څۀ کم نۀ وی؟ (۱۶) که چرے دا دَ اوړو اولنۍ پيړه پاکه وه نو نور اوړۀ به هم پاک وی اَؤ که چرے بيخ پاک وی نو څانګے به هم پاکے وی. (۱۷) خو که چرے دَ ښونۀ څنې څانګے پريکړے شوی وی، اَؤ تۀ چه ځنګلی ښون وے، په هغه ونه کښې پيوند کړے شوے وے اَؤ دَ هغۀ په غوړو جرړو کښې شريک شوے، (۱۸) نو خپل ځان دَ هغه څانګو نه ښۀ مه ګڼه. که چرے ته داسې کوے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو یاد لره چه دا تۀ نه یئے چه بیخ له وده ورکوے بلکه دا بیخ دے چه تۀ پرے پائے. ﴿١٩﴾ تۀ به وایئے چه "ښاخونه دَ دے دَ پاره پرېکړے شوے چه زَۀ په کښے پیوند کړے شم." ﴿٢٠﴾ ستا خبره په ځائے ده، هغوئ په دے وجه پرېکړے شوے چه ایمان ئے نۀ راؤړو اَؤ دَ ایمان دَ مخه تا خپل ځائے نیولے دے. نو فخر مه کوه بلکه ویرېږه. ﴿٢١﴾ ځکه که چرے خُدائے اصلی ښاخونه پرے نۀ ښوولے نو هغه به تا هم معاف نۀ کړی. ﴿٢٢﴾ دَ خُدائے دَ رحم اَؤ دَ غضب خیال ساته، غضب په هغه چا څوک چه پرېوتی دی اَؤ مهربانی په تا که چرے تۀ دَ هغۀ په رحم کښے اوسے، ګنی تۀ به هم پرېکړے شے. ﴿٢٣﴾ اَؤ که چرے یهُودیان دَ ایمان نه نور رُوګردانه نۀ وی نو هغوئ به بیا پیوند کړے شی، ځکه چه دا دَ خدائے په طاقت کښے ده چه هغوئ بیا پیوند کړی. ﴿٢٤﴾ ځکه چه که چرے تۀ دَ خپل ځنګلی ښونۀ دَ ونے نه راپرېکړے شوے اَؤ دَ خپل فطرت بر خلاف دَ اصلی ښونۀ سره پیوند شوے نو هغوئ به څومره په آسانه پیوند شی کُومے چه دَ ښونۀ خپلے ښاخونه دی.

## دَ خُدائے رحم دَ ټولو دَ پاره

﴿٢٥﴾ زما ورُوڼو! دا ځکه چه دلته یو پټ حقیقت دے کُوم چه زَۀ غواړم چه تاسو ته ئے ښکاره کړم، دَ دے دَ پاره چه تاسو ځان بے ځایه عقلمند ونۀ ګڼئ، اَؤ هغه دا دے چه دَ اِسرائیل یوه برخه به تر هغے سخته وی تر څو چه غیر قومُونه پُوره پُوره په دے کښے داخل شوی نۀ وی. ﴿٢٦﴾ اَؤ هر کله چه دا تر سره شی نو ټول اِسرائیل به دَ صحیفو دَ دے وعدے په مُطابق خلاصُون بیا مُومی چه :

"خلاصوُونکے به دَ صیون نه راپورته شی.

هغه به دَ یعقُوب دَ نسل نه بے دینی لرے کړی.

﴿٢٧﴾ اَؤ دا هغه وعده ده چه زَۀ به ئے دَ هغوئ سره کوم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چه دَ هغوئ ګُناهُونه لرے کړم.“

۲۸ دَ زیری دَ مُخالفت په وجه خو هغوئ ستاسو دَ خاطره دَ خُدائے دُښمنان دی خو دَ خُدائے دَ غوره والی په وجه هغوئ دَ خپلو نیکُونو دَ مخه په هغهٔ ګران دی ۲۹ ځکه چه دَ خُدائے نعمتُونه اَؤ دَ هغهٔ بلنه بدلیدے نهٔ شی. ۳۰ اَؤ لکه څرنګه چه مخکښے تاسو دَ خُدائے نافرمانه وئ اَؤ اوس چه دَ هغهٔ رحم دَ هغوئ دَ نافرمانئ دَ کبله په تاسو شوے دے. ۳۱ نو اوس چه تاسو رحم مُومئ، هغوئ نافرمانی کوی چه په هغوئ هم رحم وشی. ۳۲ ځکه خُدائے ټول بنی آدم په نافرمانئ کښے پریښول چه په ټولو باندے رحم وکړی.

## خُدائے ته ثنا

۳۳ واه! دَ خُدائے دولت، عِلم اَؤ پوهه څومره بے پایانه ده، اَؤ دَ هغهٔ اِنصاف څومره دَ اِدراک نه بهر دے اَؤ دَ هغهٔ لارے څومره نا آشنا دی!

۳۴ ”دَ خُدائے په اِراده څوک پوهیدے شی؟

څوک دَ هغهٔ صلاح کار شو؟

۳۵ اَؤ چا هغهٔ ته چرے دَ دے دَ پاره څهٔ ورکړی دی

چه دَ هغهٔ نه هم څهٔ واخلی؟“

۳۶ دا ټول څیزُونه خُدائے پیدا کړی دی اَؤ دا ټول څیزُونه دَ هغهٔ په وسیله اَؤ دَ هغهٔ دَ پاره په وجُود کښے دی. دَ هغهٔ ثنا دِ تل تر تله وی! آمین.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په مسيح کښې نوې ژوندُون

١٢ ﴿١﴾ دَ دې دَ پاره زما ورُونړو! زَهٔ دَ خُدائے رحمتُونه تاسو ته دريادوم اَؤ
درته خواست کوم چه خپل ځانُونه هغهٔ ته دَ داسې ژوندئ قُربانئ دَ پاره وړاندې
کړئ چه هغهٔ ته قبُوله اَؤ مُناسب وى، اَؤ ستاسو عبادت دِ دَ زړهٔ اَؤ پوهې دواړو
له رُويه معقُول وى ﴿٢﴾ خپل ځان دَ دې موجُوده دُنيا په شان مه جوړوئ، بلکه
بويه چه ستاسو پوهه بيا نوې کړې شى اَؤ دَ دې په وسيله ستاسو فطرت بالکل
بدل شى. بيا به هله تاسو دَ دې قابل شئ اَؤ په دې به پوهه شئ چه دَ خُدائے
رضا څهٔ ده اَؤ دا به وپيژنئ چه هغه ښه څهٔ دے چه قبليدُونکے اَؤ کامل دے.

﴿٣﴾ دَ هغه فضل دَ مخه کُوم چه ما ته راکړې شوے دے، زَهٔ په تاسو کښې هر
چا ته دا وايم چه څرنگه چه ځان گڼل په کار دى، دَ هغې نه زيات څوک ونهٔ
گڼئ بلکه دا چه څرنگ چه خُدائے هر چا ته دَ يوې اندازې په مُطابق ايمان
ورکړے دے، هغه دِ هم خپل ځان هغومره وگڼى. ﴿٤﴾ لکه څرنگ چه زمُونږ په
وجُود کښې ډير اَندامُونه دى اَؤ دَ ټولو اَندامُونو کار يو شان نهٔ دے، ﴿٥﴾ دغه
شان مُونږ هم ډير يُو اَؤ په خپلو کښې دَ يو بل اَندامُونه يُو اَؤ په مسيح کښې لکه
يو وجُود شوى يُو. ﴿٦﴾ اَؤ دَ هغه رحم په مُطابق چه په مُونږ شوے دے، مُونږ ته
قِسماقِسم نعمتُونه حاصل دى، څکه چه چا ته چه دَ خُدائے دَ کلام آورولو نعمت
ورکړے شوے وى نو هغه دِ دَ خپل ايمان په اندازه کلام آؤروى. ﴿٧﴾ که چرې
خدمت ورکړے شوے وى نو په خدمت کښې دِ لگيا وى، که اُستاذ وى نو په
تعليم کښې دِ مشغُول وى، ﴿٨﴾ اَؤ که ناصح وى نو نصيحت دِ کوى، خيرات
تقسيم کوُونکے دِ سخاوت کوى اَؤ رهنما دِ پُوره په سرگرمئ رهنمائى کوى، رحم
کُوونکے دِ ښهٔ په خوشحالئ رحم کوى.

## دَ مسيح دَ ژوندُون اصُول



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ مینه دِ بے ریا وی. دَ بدئ نه نفرت کوئ اَؤ دَ نیکئ سره ځان ونغاړئ. ١٠ اَؤ لکه دَ وروُنړو دَ یو بل سره محبت کوئ اَؤ دَ عزت له رُویه یو بل ته ښۀ ګورئ. ١١ په کار کښے سُستی مه کوئ، رُوحانی جوش ژوندے ساتئ اَؤ دَ خُدائے خدمت کوئ. ١٢ په اُمید کښے خوشحاله، په مُصیبت کښے صابر اَؤ په دُعا کښے مشغُول اوسئ. ١٣ دَ پاکانو په حاجتُونو کښے مدد کوئ اَؤ دَ مُسافرانو خیال ساتئ.

١٤ چه تاسو تنګوی دَ هغوئ خیر غواړئ، برکت ئے غواړئ، بد ورته مه وایئ. ١٥ دَ خوشحالو سره خوشحالی کوئ، دَ ژړیدُونکو سره ژړا کوئ. ١٦ پخپلو کښے په یو زړۀ اوسئ، لوئے لوئے خیالُونه مه زغلوئ اَؤ دَ خوارانو خیال ساتئ اَؤ خپل ځان هوښیار مه بولئ.

١٧ دَ بدئ په بدله کښے دَ چا سره بدی مه کوئ. کُومے خبرے چه دَ هر چا په نظر کښے ښے دی، هم هغه کوئ. ١٨ تر څو چه درنه کیدے شی نو دَ خپلے خوا نه دَ هر چا سره صُلح ساتئ. ١٩ اَئے زما غزیزانو! خپل بدل مه آخلئ بلکه خُدائے ته موقع ورکړئ، ځکه چه دا لیکلی شوی دی چه : ”خدائے فرمائی چه بدل آخستل زما کار دے، بدل به زۀ آخلم.“ ٢٠ تر دے چه : ”که دُښمن دِ وږے وی نو هغۀ له هم ډوډئ ورکړه اَؤ که تږے وی نو اوبۀ ورله ورکړه، ځکه چه ستا په داسے کولو به اور پرے بل شی.“ ٢١ دَ بدئ نه مغلُوب کیږه مه بلکه دَ نیکئ په وسیله په بدئ غالب شه.

## دَ اِختیار دَ خاوندانو تابعداری

**١٣** ١ هر څوک دِ دَ اِختیار دَ خاوندانو تابعدار وی، ځکه چه داسے دَ اِختیار خاوند نِشته کُوم چه دَ خُدائے دَ طرفه نۀ وی اَؤ کُوم اِختیار لرُونکی چه موجُود دی، هغه دَ خُدائے دَ طرفه دی. ٢ نو هر څوک چه دَ اِختیار دَ خاوند



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره مُقابله کوی، هغه دَ خُدائے دَ اِنتظام مُخالفت کوی اَؤ څوک چه مُخالف وی، هغه به سزا مُومی. ۞٣ ځکه چه نیکو خلقو ته دَ حاکمانو نه هیڅ خطره نهٔ وی خو بدکارو ته ضرور وی. نو که تهٔ چرے دَ حاکِم په وړاندے زړه ور اوسیدل غواړے نو نیکی کوه اَؤ هغه به ستا صفت کوی ۞٤ ځکه چه هغه ستا دَ ښیګړے دَ پاره دَ خُدائے خادم دے، خو که چرے تهٔ بدی کوے نو ویرېږه ځکه چه هغهٔ په لاس کښے تُوره بے فائدے نهٔ ده آخستے. هغه دَ خُدائے خادم دے اَؤ دَ هغهٔ دَ غضب مُوافق بدکارو له سزا ورکوی. ۞٥ نو ځکه تابعدار اوسه، دا نهٔ یواځے دَ غضب دَ ویرے له کبله لازمه ده بلکه په دے هم چه زړهٔ هم دا ګواهي ورکوی.

۞٦ تهٔ دَ دے دَ پاره تیکس هم ورکوے چه دا ګڼے چه هغوئ دَ خُدائے خادمان دی اَؤ په دے خاص کار کښے همیشه مشغُول دی. ۞٧ دَ ټولو حق پُوره کوه، چا ته چه تیکس ورکول وی، هغوئ ته تیکس ورکوه، څوک چه دَ محصُول حقدار دی هغوئ ته محصُول ورکوه، دَ چا چه ادب کول په کار دی، دَ هغوئ اَدب کوه، دَ چا چه عزت کول په کار دی، دَ هغوئ عزت کوه.

## دَ ورورولئ مُحبت

۞٨ په خپلو کښے دَ مُحبت نه بغیر په بل هیڅ څیز کښے هم دَ چا پور په ځان مه ساتئ ځکه چه څوک چه دَ بل سره مُحبت کوی، هغهٔ په شریعت پُوره عمل وکړو. ۞٩ ځکه چه دا حُکمُونه چه: "زِنا مه کوئ، خُون مه کوئ، غلا مه کوئ، حرص مه کوئ" اَؤ دَ دے نه علاوه نور چه څهٔ حُکمُونه دی، دَ هغے ټولو خُلاصه په دے کښے ده چه: "دَ خپل ګاونډی سره دَ خپل ځان په شان مینه مُحبت کوئ." ۞١٠ مُحبت دَ خپل ګاونډی سره بد نهٔ کوی، په دے سبب مُحبت کول دَ شریعت پُوره کول دی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ عیسیٰ مسیح راتلل

۱۱ اَوْ دَ وخت تقاضا پیژنئ ځکه چه اوس هغه وخت راغلے دے چه تاسو دَ
خوبه بیدار شئ، ولے څۀ وخت چه مُونږ ایمان راوړے وو، دَ هغے په نسبت
اوس زمُونږ خلاصُون نزدے دے. ۱۲ شپه ډیره تیره شوه، ورځ په راختو ده، نو
باید چه مُونږ دَ تیارے دَ کارُونو نه لاس واخلُو اَوْ دَ رڼا په کارُونو پسے ملا وتړُو،
۱۳ اَوْ چه دَ ورځے دَ رڼا په مُطابق ژوندُون تیر کړُو، نۀ چه په ګډا اَوْ نشه بازئ،
نۀ په مستئ، نۀ په زِناکارئ اَوْ نۀ په شهوت پرستی، نۀ په جګړے اَوْ حسد، ۱۴
بلکه په مالِک عیسیٰ مسیح ځان پټ کړئ اَوْ دَ وجُود دَ خواهشاتو دَ پاره تدبیرُونه
مه کوئ.

## په بل ورور اِلزام مه لګوه

**۱۴** ۱ دَ کمزوری ایمان خاوندان دَ ځان سره شامل کړئ خو دَ دے دَ پاره
نه چه تاسو ورسره دَ هغۀ دَ خیالاتو بحث کوئ. ۲ دَ یو خو دا عقیده ده چه دَ
هر څیز خوړل روا دی اَوْ کمزورے ایمان لرُونکی تشه سبزی خوری. ۳ دَ هر
قِسم خوړُونکے دِ هغه چا ته سپک ونۀ ګوری څوک چه نۀ خوری، اَوْ څوک چه
نۀ خوری هغه دِ په خوړُونکی اِلزام ونۀ لګوی ځکه چه خُدائے هغه قبوُل کړے
دے. ۴ تۀ څوک یئے چه دَ بل چا په نوکر اِلزام لګوے؟ دَ هغۀ قائم پاتے کیدل
یا پریوتل دَ هغۀ دَ مالِک سره تعلق لری، بلکه هغه به قائم کړے شی ځکه چه
خُدائے دَ هغۀ په قائم کولو قادر دے.

۵ څوک خو داسے دے چه یوه ورځ په نورو ورځو افضله ګنی اَوْ څوک
ټولے ورځے یو برابر، خو هر سړے دِ په خپل زړۀ کښے پخه عقیده لری. ۶
څوک چه یوه ورځ منی، هغه هم دَ خُدائے شکر کوی اَوْ هغه چه هر څۀ خوری،
هغه ئے دَ خُدائے دَ پاره خوری ځکه چه هغه دَ خُدائے شکر کوی. اَوْ څوک چه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځۀ نۀ خوری هغه ئې هم دَ خُدائے دَ پاره نۀ خوری اَؤ دَ خُدائے شکر کوی. ⑦
ځکه چه په مُونږ کښې نۀ خو څوک دَ خپل ځان دَ پاره ژوندے دے اَؤ نۀ دَ ځان
دَ پاره مړ کیږی. ⑧ که چرے مُونږ ژوندی یُو، هم دَ مالِک دَ پاره ژوندی یُو اَؤ
که مړُو نو هم دَ مالِک دَ پاره مړُو، نو که مُونږ ژوندی یُو اَؤ که مړُو خو دَ مالِک
یُو. ⑨ ځکه چه مسیح دَ هم دے دَ پاره مړ شو اَؤ بیا ژوندے شو، چه هغه دِ دَ
مړو اَؤ ژوندو دواړو مالِک وی ⑩ خو تۀ ولے په بل عیسائی ورور اِلزام
لګوے؟ اَؤ تۀ ولے بل عیسائی ورور ته سپک ګورے؟ مُونږ خو به ټول دَ خُدائے
دَ عدالت دَ تخت په وړاندے ودریږُو. ⑪ ځکه چه دا لیکلی شوی دی چه :

”مالِک وائی چه باور وکړئ چه

هر یو به زما په مخکښے په سجده شی،

اَؤ هره ژبه به اِقرار وکړی چه زۀ خُدائے یم.“

⑫ ځکه چه له مُونږ نه هر یو به خُدائے ته حساب ورکوی.

## بل ورور له ټیندک مه ورکوه

⑬ نو په کار دی چه آینده دَ پاره مُونږ دِ په یو بل اِلزام ونۀ لګوُو. اَؤ تاسو دا
اِراده وکړئ چه هیڅوک به دَ ورور په وړاندے هغه څیز نۀ ږدی کُوم چه دَ هغۀ دَ
ټیندک خوړلو یا راغورزیدو سبب کیږی. ⑭ ما ته معلُومه ده اَؤ په مالِک عیسیٰ
زما ایمان دے چه هیڅ څیز هم په خپله حرام نۀ دے، خو چه څوک ئې حرام
ګڼی نو هغۀ ته حرام دے. ⑮ که چرے ستا ورور ته ستا دَ خوراک نه تکلیف
رسی نو بیا تۀ دَ محبت په لاره تلل نۀ کوے. دَ کُوم سړی دَ پاره چه مسیح مړ
شو، تۀ هغه په خپل خوراک مه خرابوه! ⑯ چا ته موقعه مه ورکوه چه هغه څیز
چه ستا دَ پاره ښۀ دے، ورته بد ووائی. ⑰ ځکه چه دَ خُدائے بادشاهی په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوراک څښاک نۀ ده بلکه په صداقت، په صُلح اَؤ په هغه خوشحالئ ده چه دَ
رُوحُ القُدس دَ طرفه وی. ۱۸ اَؤ څوک چه په دے شان دَ مسیح خدمت کوی،
هغه دَ خُدائے نازولے اَؤ په خلقو کښے مقبُول دے.

۱۹ نو بیا دِ مُونږ دَ هغو خبرو طالبان شُو په کُومو چه صُلح اَؤ ترُون ترقی
مُومی. ۲۰ دَ خوراک دَ پاره دَ خُدائے کار مه ورانوئ. هر څیز پاک خو دے،
خو دَ هغه سړی دَ پاره ښۀ نۀ دے چه په خوړلو ئے تیندک خوری. ۲۱ که ستا
دَ غوښے په خوړلو اَؤ دَ شرابو په څښلو اَؤ څۀ داسے بل څۀ کار نه، ستا ورور
تیندک خوری نو دا ښه ده چه تۀ دَ دے څیزُونو نه ځان وساتے.

۲۲ په داسے څیزُونو کښے څۀ چه ستا عقیده وی، هغه دَ خُدائے اَؤ په خپل
مینځ کښے وساته. بختور دے هغه څوک چه دَ هغه څیز په وجه کُوم چه هغه
روا گڼی خپل ځان مُجرم کوی نه! ۲۳ خو څوک چه په کُوم څیز کښے شک
لری، که چرے هغه وخوری نو هغه پرے مُجرم کیږی، ځکه چه که هغه دا عقیده
نه لری چه هغۀ ته داسے کول په کار دی اَؤ که مُونږ په یقین سره یو کار ته ښۀ
نۀ شُو وئیلے نو دَ هغۀ کول گُناه ده.

## ځان نه بلکه ملگری خوشحالوه

۱۵ ۱ غرض دا چه مُونږ چه په ایمان کښے زورَور یُو، په کار دی چه دَ
کمزورو سره مرسته وکړُو، نۀ چه په خپله خوشحالئ کښے مشغُول یُو. ۲ په
مُونږ کښے دِ هر یو خپل گاونډی دَ هغۀ دَ فائدے دَ پاره خوشحاله ساتی په دے
چه دَ هغۀ ایمان مظبُوط شی. ۳ ځکه چه مسیح هم په خپل ځان خوشحالی
کړے نۀ وه بلکه دا لیکلی شوی دی چه : "ستا دَ ملامت کوُونکو ملامتُونه په ما
راغلل." ۴ ځکه چه کُومے خبرے چه وړاندے په صحیفو کښے ولیکلے
شوے، هغه زمونږ دَ هدایت دَ پاره دی، دَ دے دَ پاره چه دَ صبر اَؤ دَ کتابِ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُقدس نه دَ تسلئ اُمید ولرُو. ۵ اَؤ خُدائے چه دَ صبر اَؤ دَ تسلئ سرچینه دے، هغه دِ تاسو له دا توفیق درکړی چه دَ عیسیٰ مسیح په مُطابق په خپلو کښے یو زړهٔ شئ، ۶ دَ دے دَ پاره چه تاسو په یو زړهٔ اَؤ یوه ژبه دَ خُدائے، زمونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح دَ پلار لوئی بیان کړئ.

## دَ غیر یهُودیانو دَ پاره زیرے

۷ پس څهٔ رنګ چه مسیح تاسو دَ خُدائے دَ جلال دَ پاره قبُول کړئ، دغسے تاسو هم یو بل قبُول کړئ. ۸ زَهٔ دا وایم چه مسیح دَ خُدائے دَ رښتینوالی دَ ثابتولو دَ پاره دَ یهُودیانو خادم شو، دَ دے دَ پاره چه هغه وعدے پُوره کړی کُومے چه دَ پلارُونو نیکُونو سره شوی دی ۹ اَؤ چه غیر یهُودیان هم دَ رحم په سبب دَ خُدائے ثنا ووائی لکه څنګه چه لیکلی دی چه :

”دَ دے دَ پاره چه زَهٔ به په غیر یهُودیانو کښے

ستا اِقرار کومه اَؤ ستا دَ نُوم سرودُونه به وایم.“

۱۰ اَؤ بیا فرمائی چه :

”اَئے غیر یهُودیانو! دَ هغهٔ دَ اُمت سره خوشحالئ وکړئ!“

۱۱ بیا دا چه :

”اے ټولو غیر یهُودیانو! دَ خُدائے ثنا ووایئ،

اَؤ ټول اُمتونه دِ دَ هغهٔ ثنا صِفت بیان کړی!“

۱۲ اَؤ یشعیاه هم وائی چه :

”دَ یشی نسل به راځی، یعنے هغه سړے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه په غیر یهُودیانو به حکُومت کولو له راپورته شی،

دَ هغهٔ نه به غیر یهُودیان اُمید لری.“

۱۳ خو خُدائے چه دَ اُمید سرچینه دے، هغه دِ تاسو دَ خپل ایمان په وسیله دَ
هرے خوشحالئ اَؤ سلامتئ نه معمُور کړی دَ دے دَ پاره چه دَ رُوحُ القُدس په
قُدرت ستاسو اُمید هم په مخه زیاتیږی.

## دَ پولوس تبلیغی مصرُوفیات

۱۴ اَؤ اَئے زما ورُونړو! زما په خپله هم ستاسو په حقله دا یقین دے چه تاسو په
خپله هم په نیکئ معمُور اَؤ په معرفت پُوره یئ اَؤ بل ته ښوونه هم کولے شئ. ۱۵
نو ما هم په بعضے ځایُونو کښے زیات په زړه ورتیا دَ دے دریادولو په طور دَ
دے دَ پاره دا تاسو ته ولیکل چه دَ خُدائے دَ طرف نه ۱۶ زَهٔ غیر یهُودیانو ته دَ
عیسیٰ مسیح دَ خادم کیدو په توفیق نمانځلے شوے یم، چه زَهٔ دِ دَ خُدائے دَ
زیری خدمت لکه دَ یو کاهن ترسره کړم، دَ دے دَ پاره چه غیر یهُودیان دَ نذرانے
په طور په رُوحُ القُدس مُقدس شی اَؤ مقبُول شی. ۱۷ نو ځکه زَهٔ دَ هغه خدمت
په سبب چه په عیسیٰ مسیح کښے دَ خُدائے دَ خاطره کوم، فخر کوم. ۱۸ ځکه
چه زَهٔ دَ هغه خبرو کولو جُرات کوم چه مسیح زما په وسیله کړے دی چه زَهٔ
غیر یهُودیان دَ خُدائے تابع کړم. مسیح نهٔ یواځے قول اَؤ فعل ۱۹ بلکه په نخښو
اَؤ مُعجزو، یعنے دَ رُوحُ القُدس په قُدرت وکړلے، تر دے چه ما دَ بیتُ المُقدس
نه راواخله چار چاپیره دَ اِلریکوم پورے دَ مسیح زیرے پُوره پُوره خور کړے
دے. ۲۰ اَؤ دغه زما آرزو ده چه چرته چه دَ مسیح نُوم نهٔ دے آؤریدلے شوے،
هلته دا زیرے ورسوم، دَ دے دَ پاره چه دَ بل په بُنیاد آبادی ونهٔ کړم. ۲۱ بلکه
ځنګه چه لیکلی شوی دی، هم هغسے دِ وشی چه :

”چا ته چه دَ هغهٔ خبر نهٔ دے رسیدلے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ به ووينی،

اَؤ چا چه دَ هغهٔ په حقله نهٔ دی آؤريدلی،

هغوئ به پوهه شی.“

## دَ پولوس رُوم ته دَ تلو اِراده

٢٢ دَ دے دَ پاره زَهٔ تاسو ته دَ بيا بيا راتلو نه ايسار وم. ٢٣ خو اوس په هغه
ملکُونو کښے زما حاجت نِشته اَؤ دَ ډيرو کالُونو راسے تاسو له دَ راتلو آرزُومند
وم. ٢٤ دَ دے دَ پاره کله چه اسپانيه ته ځم نو په لاره به تاسو ته هم درځم ځکه
چه زما دا اُميد دے چه په هغه سفر کښے به تاسو سره مُلاقات کوم، اَؤ څهٔ
وخت چه تاسو سره په څهٔ مُوده تيرولو مے زړهٔ موړ شی نو بيا به مے تاسو هغه
طرف ته رُخصت کړئ. ٢٥ خو اوس دَ پاکانو دَ خدمت دَ پاره بيتُ المُقدس ته
ځم. ٢٦ ځکه چه دَ مِکدونيه اَؤ دَ اخيه خلق دَ بيتُ المُقدس دَ خوارو پاکانو دَ
پاره په چنده کولو رضا شوی دی. ٢٧ سره دَ دے چه دا ئے په رضا سره
کړے ده خو هغوئ دَ دوئ قرضداری هم دی ځکه چه هر کله چه غير قومُونه دَ
يهُوديانو سره په رُوحانی خبرو کښے شريک شوی دی نو اوس لازمه ده چه په
جسمانی خبرو کښے هم دَ هغوئ خدمت وکړی. ٢٨ پس زَهٔ دَ دے خدمت دَ
ترسره کولو اَؤ چه څهٔ حاصل شول هغوئ ته دَ حواله کولو نه پس به ستاسو په
لار اسپانيه ته ځم. ٢٩ اَؤ زَهٔ په دے پوهه يم چه کله چه زَهٔ تاسو له راځم نو دَ
مسيح پُوره برکت به راؤړم.

٣٠ اَؤ اَئے ورُونو! زَهٔ دَ عيسىٰ مسيح خوک چه زمُونږ مالِک دے په وسيله اَؤ دَ
رُوح دَ محبت په رُوئے تاسو ته دا سوال کوم چه زما دَ پاره دَ خُدائے نه په
دُعاګانو غوښتو کښے ما سره دَ زړهٔ نه يو شئ، ٣١ چه زَهٔ دَ يهُوديه دَ نافرمانو
نه بچ شم اَؤ زما هغه خدمت چه دَ بيتُ المُقدس دَ پاره دے، دَ پاکانو خوښ شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۷ اَوْ دَ خُدائے په مرضئ ښۀ په خوشحالئ تاسو له درشم اَوْ تاسو سره آرام بيا
مُومم. ۳۳ خُدائے چه دَ سلامتئ سر چينه دے، دِ تاسو ټولو سره وى. آمين.

## دَ پولوس ځانى سلام

**۱۶** ۱ زَۀ تاسو ته دَ فيبے چه زمُونږ خور اَوْ دَ کِنخريه دَ جماعت خدمتګاره
ده، سفارش کوم، ۲ چه تاسو هغه دَ مالِک په يووالى کښے داسے قبُوله کړئ
لکه چه پاکانو ته په کار وى، اَوْ په کُوم کار کښے چه هغه تاسو ته مُحتاجه وى،
دَ هغے مدد وکړئ، ځکه چه هغه هم دَ ډيرو مددګاره وه بلکه زما ئے هم مدد
کړے دے. ۳ پرسکله اَوْ اکويله ته مے سلام وايئ، هغوئ په مسيح کښے زما
دَ کار ملګرى وُو. ۴ هغوئ زما دَ ژوندانۀ دَ خاطره خپل ځانُونه په خطره
کښے هم اچول اَوْ نۀ صرف زَۀ بلکه دَ غيرو يهُوديانو ټولو جماعتُونه دَ هغوئ
شکر ګذار دى. ۵ اَوْ هغه جماعت ته مے هم سلام وايئ کُوم چه دَ هغوئ په
کور کښے دے.

ګران اِپينتوس ته هم زما سلام وايئ چه دَ مسيح دَ پاره په آسيا کښے وړومبے
ايماندار سړے دے. ۶ مريم ته مے سلام کوئ، چا چه ستاسو دَ پاره ډير ځان
کړولے دے. ۷ اندرونيکوس اَوْ يونياس ته مے سلام وايئ، هغوئ زما وطنى
دى اَوْ ما سره قيد شوى وُو اَوْ په رسُولانو کښے نُوميالى دى اَوْ زما نه ئے
وړُومبے په مسيح ايمان راوړے وو.

۸ امپلياطوس ته مے سلام وايئ چه دَ مالِک له خاطره په ما ګران دے. ۹
اوربانوس ته مے سلام وايئ چه دَ مسيح په خدمت کښے زمُونږ ملګرے دے اَوْ
په ما ګران ستاخوس ته مے سلام. ۱۰ اَوْ په مسيح باندے په ايمان کښے
آزمائيلے شوے اپيليس ته مے سلام وايئ اَوْ دَ اريستوبولوس دَ کور خلقو ته
مے سلام وايئ. ۱۱ زما وطنى هيروديون ته سلام اَوْ دَ نرکس دَ کور هغه خلقو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته سلام چه دَ مالِک سره یووالے لری.

⑫ ترفینه اَؤ ترفوسه ته سلام ورکړئ چه دَ مالِک دَ پاره خواری کوی اَؤ هم خوږے پرِیس ته سلام چه دَ مالِک دَ پاره ئے ډیره خواری کړے ده. ⑬ اَؤ روفوس ته سلام چه دَ مالِک غوره شوے دے اَؤ دَ هغهٔ مور ته چه زما هم مور ده، سلام وایئ. ⑭ اَسُنکریتوس، فلیګون، هِرمیس، پترویاس، هِرماس اَؤ هغو ورُوڼو ته چه دَ هغوئ ملګری دی، سلام وایئ. ⑮ فیلولوګوس اَؤ یولیه اَؤ نیریوس اَؤ دَ هغهٔ خور اَؤ اُلمپاس اَؤ ټولو پاکانو ته چه دَ هغوئ سره دی سلام وایئ.

⑯ اَؤ په خپلو کښے یو بل په پاکه مینه ښکل کړئ اَؤ یو تر بله سلام وکړئ، دَ مسیح ټول جماعتُونه درته سلام وائی.

## آخری هدایت

⑰ نو اوس اَئے ورُوڼو! زَهٔ تاسو ته دا خواست کوم چه کُوم خلق دَ هغه تعلیم برخلاف چه تاسو حاصل کړے دے، دَ بے اِتفاقئ اَؤ تیندک خوږو سبب کیږی، هغه په نظر کښے ساتئ اَؤ ځان ترے ساتئ. ⑱ ځکه چه داسے خلق زمُونږ دَ مالِک مسیح خدمتګاران نهٔ دی بلکه دَ خپلے خیټے خدمت کوی اَؤ په خوږو خبرو ساده خلق دوکه کوی. ⑲ ځکه چه ستاسو فرمانبرداری په ټولو خلقو کښے مشهُوره شوے ده، ځکه زَهٔ ستاسو په حقله خوشحاله یم خو غواړم چه په نیکئ کښے هوښیاران شئ اَؤ دَ بدئ نه ځان ساتئ. ⑳ اَؤ خُدائے چه دَ سلامتئ سرچینه دے، هغه به ډیر زر شیطان ستاسو دَ پښو لاندے چخنی کړی.

زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح فضل دِ تاسو سره وی. ㉑ زما ملګرے تیموتیوس اَؤ زما عزیزان لوکیوس، یاسون اَؤ سوسیپطرس درته سلام وائی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٢ دَ دے خط کاتب ترتیوس تاسو ته په مالِک کښے سلام وائی.

٢٣ ګایوس چه زما اَؤ دَ ټول جماعت کوربه دے، تاسو ته سلام وائی، اِراستوس دَ ښار خزانچی اَؤ ورور کوارتوس درته سلام کوی. ٢٤ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح فضل دِ تاسو ټولو سره وی. آمین.

## دَ خُدائے شکر

٢٥ راځئ چه دَ خُدائے حمدوثنا ووایُو! هغه تاسو په ایمان کښے مظبُوطولے شی لکه چه دَ عیسیٰ مسیح دَ زیری په مُطابق چه زَهٔ آؤروم! له دے نه علاوه دَ خُدائے په کشف کښے همدغه پټ مقصد دے. هغه کشف دَ ډیرے مُودے راسے پټ وو، ٢٦ خو اوس ښکاره کړے شو، اَؤ ازلی خُدائے دَ نبیانو دَ کلام په وسیله هغه ښکاره کړے دے دَ دے دَ پاره چه دَ هغهٔ دَ حُکم په مُطابق ټول قومُونه دَ ایمان راوړلو سره دَ هغهٔ تابع شی.

٢٧ دَ هغه واحد خُدائے چه په هر څهٔ پوهیږی، دَ عیسیٰ مسیح په وسیله تل تر تله لوئی وی! آمین.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.